


د پرمختګ رپورټ

# د دوه زره اتم کال راهسې
# د پاکستان افغانستان پارلیماني مذاکرو
# په سفارښتونو د عملدرامد جاج

دسمبر دوه زره څوارلسم

WWW.PILDAT.ORG

د پرمختګ رپورټ

# د دوه زره اتم کال راهسې
# د پاکستان افغانستان پارلیماني مذاکرو
# په سفارښتونو د عملدرامد جاج

دسمبر دوه زره څوارلسم

پلډاټ
پاکستان انسټيټيوټ آف
ليجسليټو ډويلپمينټ
اينډ ټرانسپيرينسي

پلډاټ یوه آزاده،غېر جانبداره او بې ګټې د څېړنې او روزنې خپلواکه اداره ده چې مقصد ئې پاکستان
کښې جمهوريت او جمهوري ادارې مضبوطول دي.

پلډاټ د پاکستاني مدني ټولنې د قانون XXI مادې کال اتلس سوه شپېته ترلاندې رجسټر شوې بغېر ګټې
اداره ده.

پاکستان انسټي ټيوټ آف لېجسلېټېو ډوېلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي پلډاټ کاپي رائټ لري

ټول حقونه خوندي ساتي

پاکستان کښې چاپ شوې

دسمبر دوه زره ديارلسم کښې خپور شوې

ISBN: 978-969-558-457-6

د دې کتاب نه اخستې شوې هره برخه بايد چې د پلډاټ د ښکاره حوالې سره اوليکلې ياخپور کړې شي

Pakistan Institute of
Legislative Development
And Transparency

د پاکستان انسټي ټيوټ آف لېجسلېټېو ډوېلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي پلډاټ
اسلام آباد دفتر: پي او بکس ۲۷۸، ايف اېټ، پوسټل کوډ: ۴۴۲۲۰، اسلام آباد، پاکستان.
لاهور دفتر: پي او بکس ۱۱۰۹۸، اېل سي سي اېچ اېس، پوسټل کوډ: ۵۴۷۹۲، لاهور، پاکستان
اېمېل: info@pildat.org; وېبپاڼه : www.pildat.org

# مواد

## تمهید

د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو ترمنځه د شوې مذاکرو په سفارښتونو دعملدرامدجاج 07

## اضافه شوي

اضافه A: د پاکستان افغانستان پارلیماني ډلو ترمنځه په یو کم دیرشم، دیرشم مارچ دوه زره یولسم کال اسلام آباد کښې د شوې څلورمې مذاکرې ګډه اعلامیه 20

اضافه B: د پاکستان افغانستان پارلیماني ډلو ترمنځه په یو کم دیرشم، دیرشم مئ دوه زره یولسم کال کابل کښې د شوې پنځمې مذاکرې ګډه اعلامیه 21

اضافه C: د پاکستان افغانستان پارلیماني ډلوترمنځه په شلم' یوویشتم دسمبردوه زره یولسم کال اسلام آباد کښې د شوې شپږمې مذاکرې ګډه اعلامیه 23

اضافه D: د پاکستان افغانستان پارلیماني ډلو ترمنځه په یوولسم دولسم دسمبردوه زره دولسم کال اسلام آباد کښې د شوې اوومې مذاکرې ګډه اعلامیه 25

اضافه E: د پاکستان افغانستان پارلیماني ډلوترمنځه په لسم، یوولسم دسمبردوه زره دیارلسم کال کابل کښې د شوې اتمې مذاکرې ګډه اعلامیه 28

اضافه F: د پاکستان افغانستان پارلیماني ډلو ترمنځه په څلیرشتم پنځه ویشتم ستمبردوه زره دیارلسم کال اسلام آباد کښې د شوې نهمې مذاکرې ګډه اعلامیه 30

اضافه G: د پاکستان افغانستان پارلیماني ډلو ترمنځه په ړومبي دویم اکتوبر دوه زره دیارلسم کال اسلام آباد کښې د شوې لسمې مذاکرې ګډه اعلامیه 32

اضافه H: د پاکستان افغانستان د پارلیماني غړو ترمنځه په اوولسم اتلسم دسمبر کال دوه زره دیارلسم کابل، افغانستان کښې شوې مذاکرې ګډ بیان 32

**د دوه زره اتم کال راهسې د پاکستان افغانستان پارلیماني مذاکرو په سفارښتونو د عملدرامد جاج**

**دسمبر دوه زره څوارلسم**

# تمهید

د پولو په معاملاتو د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو ترمنځه د هم اهنګۍ او ښه مرستو پیدا کولو په غرض ، پلډاټ ډېر په کامیابۍ سره دکال دوه زره اتم نه د پارلیماني غړو ترمنځه د مذاکرو یوه لړۍ شورو کړېده. د دوه زره اتم نه تر اوسه پلډاټ د داسې مذاکرو یولس پړاوه کړیدي.

دغه لړ کښې ددوانړو غاړو دپارلیماني غړ ترمنځه ړومبۍ ناسته د پارلیمنټري اوورسائټ یا پارلیماني چارو باندې د نظر د سر خط لاند په دوه ویشتم دري ویشتم اپریل دوه زره اتم کښې اسلام آباد کښې شوې وو؛د پارلیماني بودیجې د طریقه کار په نوم دپاکستان افغانستان د پارلیماني غړو ترمنځه دویمه ناسته په اته ویشتم نهه ویشتم اکتوبر دوه زره اتم کال کښې کابل کښې اوشوه؛دا رنګ دریمه غونډه په یودیرشم مارچ او ړومبي اپریل کا دوه زره نهم اسلام آباد کښې د خارجه پالیسو د جوړښت او دې ته د نظر کولو د سرخط ترلاندې اوشوه؛د دوانړو هیوادونو د پارلیماني غړو ترمنځه پنځمه ناسته په یوکم دیرشم او دیرشم مارچ دوه زره یوولسم ، اسلام آباد کښې اوشوه؛پنځمه غونډه کابل کښې په یو کم دیرشمه او دیرشمه مئ دوه زره یوولسم کښې اوشوه؛شپږمه غونډه په شلم یوویشتم دسمبر دوه زره یوولسم اسلام آباد کښې تر سره شوه؛اوومه غونډه د پاکستان افغانستان پارلیماني فرېنډ شپ ګروپ د سېوري لاندې په یوولسم او دولسم دسمبر کال دوه زره دولسم اسلام آباد کښې اوشوه؛په لسم او یوولسم ستمبر دوه زره دیارلسم کال کابل کښې د دفاعي کمېټو اتمه غونډه اوشوه؛نهم پارلیماني مذاکرات اسلام آباد کښې په څلیرشتم پنځه ویشتم ستمبر دوه زره دیارلسم کال کښې ترسره شو؛ د دوانړو هیوادونو د پارلیماني غړو ترمنځه په ړومبي اودویم اکتوبر اسلام آباد کښې لسمه غونډه اوشوه ، او په اوولسم ، اتلسم دسمبر کال دوه زره دیارلسم کابل ، افغانستان کښې د پاکستان افغانستان د پارلیماني غړو ترمنځه یوولسمه مذاکره وشوه.

هم د دې مذاکراتي لړۍ په ترس کښې ټاکلې شوېده دولسمه غونډه د دسمبر کال دوه زره څوارلسم په. په دیرشمه او یو دېرشمه نېټه اسلام آباد ، پاکستان کښې وشي.

دا رپورټ د پاکستان افغانستان د پارلیماني غړو د مذاکرو د بېک ګراونډ پېپر په حېث تیار کړې شوېدې.

د دې رپورټ مقصد د پارلیماني غړو ترمنځه د دوه زره اتم کال راهسې شوې مذاکرو په سفارښتونو په سرکاري کچ د شوي پرمختګ لړ کښې مرسته او هغه په ریکارډ راوستل دي.

دا رپورټ د پارلیماني غړو ترمنځه د شوې مذاکرو روستو ګډو خبري غونډو په رڼا کښې تیار کړې شوېدې چې اوکتلې شي دوانړو حکومتونو تراوسه په وړاندې کړې شوې سفارښتونو څومره عملدرامد کړېدې او دوي پکښې څه قسمه مرسته کولې شي.

# اعتراف

مونږد دې رپورټ په تجدیدولو کښې دپاکستاني خارجه وزارت د مرستو مننه کوو. دې سره سره دې رپورټ کښې استعمال شوي مواد د پاکستان افغانستان د خارجه وزارتونو د سرکاري وېب پاڼوڅخه اخستې شویدي.

پلډاټ غواړي چې د برطانوي هائي کمشن هم مننه وکړي چې د دې پېپر چهاپ کولو کښې ئې ورسره مرسته کړېده

# لاتعلقي

پلډاټ د خپلو وسائلو پر بنسټ د دې رپورټ تیارولو کښې پوره پوره خواري کړېده. دې کښې کېدونکې غلطۍ او کوتاهۍ به له قصده نه وي

اسلام آباد
دسمبر دوه زره څوارلسم

د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو په مذاکرو کښې وړاندې کړې شوې سفارښتونو باند شوې عملدرامد

د دوه زره‌اتم کال راهسې دوه زره څورالسم پورې دپاکستان افغانستان د پارلیماني غړو ترمنځه شوې ناستې او د هغې په سفارښتونو د شوي عملدرامد تفصیل:

| شمیره | سفارښتونه | تر دسمبر دوه زره څوارلسم شوې عملدرامد |
|---|---|---|
| 1. | **د پاکستان افغانستان ترمنځه د ستراتیجیکي مرستو تړون ته حتمي شکل ورکول او هغه لاسلیک کول**[1] | 1. د پاکستا ن خارجه وزیرې آغلي حنا رباني کهر د افغانستان خارجه وزیر ښاغلي زلمي رسول ته د ستراتیجیکي مرستو یو تړون (SPA) مسوده وړاندې کړه.کله چې هغه د نومبر کال دوه زره دولسم په دیرشمه نېټه د اسلام آباد سفر کړې وو.<br>2. افغان ډلي لا هم د هغې تړون جواب نه دي ورکړې..<br>3. د افغانستان نوې مشروالۍ ددغې تجویز لړ کښې خپله رضا مندي ښکاره کړې، خو بیا هم دوې په دغه حواله په اصولو توګه څه نه دي وئېلي. |
| 2 | د دوه ملکونو ترمنځه د تعلقاتو ښه کولو نوې لارې چارې لټول چې پکښې د اولس دپاره اقتصادي مرستې زیاتول،خپل منځې تجارت کښې آسانی،تعلیم او د ځوانانو او استاذانو د تبادلې پروګرامونه شامل دي.[2] | 1. **وزیراعظم نواز شریف افغانستان سره په ښه او پرامنه تعلقاتو ټینګار کړېدې او دی ته خاص اهمیت ورکوي.**<br>2. د وزیراعظم نواز شریف لخوا د کابل د تیرې دورې پرمهال چې ده د دوه زره دیارلسم کال نومبر په دېرشمه نېټه کړې وو، پکښې نوموړي د افغانستان د بیاودانۍ او اقتصادي ترقۍ د پاره د پاکستان امداد د درې سوه پنځه اتیا ملینه نه په زیاتولو پنځه سوه ملینه ته د رسولو اعلان کړېدې.<br>3. د پاکستان افغانستان او برطانیې څلورمه درې اړخیزه غونډه لندن کښې اوشوه چې پکې ټینګار اوکړې شو د کنړ په سېند د اوبو نه بجلي پیدا کولو منصوبې ډېر زیات اهمیت دې، دا شان په کاسا ۱۰۰۰ او تاپي پروژې باندې هم په بشپړه توګه عملدرامد پکار دی.[3]<br>4. **د پاکستان افغانستان ترانزټ ټرېډ کوارډینشن اتهارټی(APTTCA) غونډه د اکتوبر په اتمه او نهمه نېټه دوه زره دیارلسم کال کابل کښې اوشوه چې پکښې د ترانزټ لوظنامې عملي کولو او په دغه اړه پېښو اندېښنو او معاملو غور اوشو د APPTCA بله غونډه دوه زره څوارلسم کال دسمبر کښې ټاکل شوېده.**<br>5. **پاکستاني حکومت درې زره افغان زده کوونکو ته پوره سکالرشپ باندې د پاکستان** |

1. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue VII, held on December 11-12, 2012 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/events/12-12-12/pdf/PAK-AfghanDialogueIV_JDEng.pdf
2. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue VII, held on December 11-12, 2012 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/events/12-12-12/pdf/PAK-AfghanDialogueIV_JDEng.pdf
3. Afghanistan-Pakistan-UK 4th Trilateral Summit Held in London, October 30,2013 ,Office of the President Islamic Republic of Afghanistan http://president.gov.af/en/news/25833

| | | |
|---|---|---|
| | | **غوره تعلیمي ادارو کښې د زده کړو آسانۍ ورکوي. خواشاه اوولس سوه افغانان د سکالر شپ پروګرام ترلاندې پاکستان کښې زده کړې ترسره کوي.** افغان زده کوونکو ته شپږ سوه نور سکالرشپونه په دوه زره څوارلسم کال کښې ورکړې شویدي.<br>6. پاکستان د افغانستان سره د بجلۍ لړ کښې د راهدارۍ لوظنامه لاس لیک کړه ، د خزانې وزیر سنېټر محمد اسحاق ډار وائي د منځې آسیا نه پاکستان ته د برېښنا راوستوسره به د دوانړوملکونوترمنځه مرستو زیاتولو ته وده ورسي. دوانړه حکومتونه منځې آسیا نه د افغانستان په لاره پاکستان ته بجلۍ راوستو لړ کښې د یو کلو واټ په سر یو اعشاره دوه پنځه سېنټه راهدارۍ په لوظنامه متفق شو.[4] |
| 3 | د پاکستان اوافغانستان د حکومتو په تجویز د یورپې یونېن په څېر د آسیائي ملکونو یو شریک پارلیمان جوړل غواړي.[5] | |
| 4 | پارلیماني غړو د پاکستان افغانستان ترمنځه تعلقاتو نور مضبوطولو لړ کښې د اقتصادي او تجارتي اړیکو زیاتو د عزم ستائنه وکړه چې ژمنه شوې دوه زره پنځلسم کال پورې به خپل منځي تجارت پنځه اربه ډالرو ته رسولې شي.[6] | د پاکستان د خزانې وزیر سنېټر محمد اسحاق ډار دخپل افغان سیال ډاکټر عمر ذاخیلوال سره په دیارلسم نومبر دوه زره څوارلسم ملاقات کښې په دې صلاح شوي وو چې دوه اړخیزه تجارت به راتلونکې دوه درې کالو کښې پنځه اربه امریکائي ډالرو ته رسولې شي کوم چې دا وخت دوه نیم اربه ډالره دې او د دې اشاره د دوانړو روڼو ملکونو مشرانو ورکړېده.[7] |
| 5 | راتلونکې پارلیماني غونډو کښې ټولو سیاسي ګوندونو \ډلو، مذهبي او صنفي نمائندګانو ته برخه ورکول پکار دي چې د دوانړوملکونو په پارلیمان کښې شتون لري.[8] | 1. د پلډاټ لخوا تابیا شوې مذاکروکښې دا خبره باورې کړې شوېده چې باید داسې ناستو کښې ټولو سیاسي ګوندونه ته نمائندګي ورکړې شي لکه چې پاکستاني پارلیمان کښې ده.<br>2. د افغانستان پارلیماني سکټرېټ مذاکره کښې د ګډون کولو دپاره دپارلیمان غړي نومولي دي.هیله ده چې دغه خلقو کښې به د ټولو ګوندونو تپو او صنفونو نمائندګي موجود وي. |
| 6 | د دوانړو ملکونو ترمنځه په سرکاري کچ د کېدونکي ملاقاتونو او عملدرامد دپاره یو مسلسل رابطه او دهغې روستو تپوس پکار دې.[9] | 1. د پاکستان افغانستان ترمنځه په سرکاري کچ د ملاقاتونو او د هغې مسلسل جاج اخستو عمل په باقاعده بنیادونو روان دې. |

4. For detail please see, Pakistan, Afghanistan sign transit fee accord on CASA-1000 energy, Pakistan Today, October 11, 2014: http://www.pakistantoday.com.pk/2014/10/11/business/pakistan-afghanistan-sign-transit-fee-accord-on-casa-1000-energy/
5. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue VII, held on December 11-12, 2012 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at: http://www.pildat.org/events/12-12-12/pdf/PAK-AfghanDialogueIV_JDEng.pdf
6. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue XI, held on December 17-18, 2013 in Kabul. The Joint Statement can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=669
7. For details please see, Pakistan, Afghanistan agree to double bilateral trade volume, The News, November 14, 2014: http://www.thenews.com.pk/Todays-News-13-34088-Pakistan-Afghanistan-agree-to-double-bilateral-trade-volume
8. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue VII, held on December 11-12, 2012 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/events/12-12-12/pdf/PAK-AfghanDialogueIV_JDEng.pdf
9. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue VII, held on December 11-12, 2012 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/events/12-12-12/pdf/PAK-AfghanDialogueIV_JDEng.pdf

## د دوه زره اتم کال راهسې د پاکستان افغانستان پارلیماني مذاکرو په سفارښتونو د عملدرامد جاج

### دسمبر دوه زره ځوارلسم

| | | |
|---|---|---|
| 7 | **باید چې پارلیماني فرېنډ شپ ګروپ او پلډاټ ددوانړو غاړو دپارلیماني غړو یوه کور کمېټي جوړه کړي کومه چې به د راتلونکې مذاکرو دپاره اهمې معاملې په ګوته کوي او ورسره ورسره به په سفارښتونو د عملدرامد جاج هم اخلي[10].دا ګروپ به د دوانړو رونړو ملکونو د ترمنځه نا باورۍ ختمولو کوشش هم کوي.د پاکستان افغانستان پارلیماني مذاکرو ته باقاعده قانوني شکل ورکوي.** | 1. د پاکستان پرله پسې پارلیمانونو کښې پاکستان افغانستان پارلیماني فرینډ شپ ګروپ جوړ کړې شوېدې څوک چې د دوانړوملکونوپارلیمانیمذاکرو تابیا کولو کښې مرستې کوي او غواړي چې دې ته اداتي شکل ورکړي. .<br>2. د پاکستان افغانستان پارلیماني فرېنډ شپ ګروپ کنوینئرد پاکستان افغانستان پارلیماني ډلو دمذاکرو ګډې اعلامې د فرېنډ شپ ګروپ د اېجنډې په حېث راپورته کوي .<br>3. په یو کم دیرشم او درشم مارچ دوه زره یوولسم اسلام آباد کښې شوې د ړومبې پاکستان افغانستان پارلیماني غړو مذاکرې نتیجې د پیپلزګوند سره تعلق لرونکي سنېټر محمد جهانګیر بدرپه دیرشم مارچ دوه زره یوولسم کال د سېنټ دغونډې دوران وړاندې کړې وې.<br>4. دافغانستان د پارلیمان غړ و دپاکستاني خارجه چارو د کمېټۍ په بلنه دوه زره یوولسم کال کښې د پاکستان سفر کړې وو او دغه دورانئې په جار دا خبره اوکړه چې دا مذاکره (چې د پروژې ترلاندې پلډاټ تابیا کړې وو) د لاربښودنې کار ترسره کړو چې ورسره به د پاکستان افغانستان پارلیماني غړي خپلو کښې لیده کاته کوي.<br>5. پاکستاني سنېټ کښې د پاکستان افغانستان فرینډشپ ګروپ او پلډاټ په مرسته د ستمبر په څلیرشتمه او پنځه ویشتمه نېټه دوه زره دیارلسم کال د دوانړو هیوادونو غونډه تابیا کړې وه.<br>6. پاکستاني قامي اسمبلۍ کښې د پاکستان افغانستان فرینډشپ ګروپ او پلډاټ په مرسته د اکتوبر په ړومبۍ او دویمه نېټه دوه زره دیارلسم کال د دوانړو هیوادونو غونډه تابیا کړې وه.<br>7. پلډاټ د پاکستان په قامي اسمبلۍ او سنېټ کښې د فرېنډ شپ ګروپ سره په ګډه کوشش کوي چې افغانستان سره کار ته وده ورکړې شي، او اوس د مهمو قائمه کمېټو لکه دفاع او خارجه پالیسو کمېټو په مرسته کوشش کوي چې دې مذاکرو ته باقاعده شکل ورکړي.<br>8. د دوانړو غاړو پارلیماني ډلو ته په نولسم ستمبر دوه زره دیارلسم کال چېن کښې میلمستیا ورکړې شوه.<br>9. د پاکستان چین او افغانستان درې اړخیزه مذاکره په نولسم شلم اکتوبر دوه زره څوارلسم کال اسلام آباد کښې تابیا شوې وه.[11] |

10. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue VII, held on December 11-12, 2012 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/events/12-12-12/pdf/PAK-AfghanDialogueIV_JDEng.pdf
11. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514

| | | |
|---|---|---|
| 8 | **د دوانړو غاړو پارلیماني غړو په دې خبره اتفاق وو چې دمذاکرو شریکې اعلامیې به خپل خپل پارلیمان او خارجه دفتر سره شریکوي.**[12] | 1. پاکستاني سنېټ کښې د دفاعي چارو د کمېټۍ مشر سنېټر مشاهد حسېن سیدد پاکستان افغانستان د دفاعي کمېټو دغونډې احوال کومه |
| | | چې د ستمبر په لسمه او یوولسمه نېټه دوه زره دیارلسم کال کښې شوې وه ،په دریم دسمبر دوه زره دیارلسم کال ایوان ته وړاندې کړه[13] |
| 9 | د دې خبرې سره اتفاق اوکړې شو چې بعضې موضوعات لکه د افغانستان نه د ناټو \ امریکا قواو ویستل،په امنیتي او مفاهمتي عمل خبرې کول او دې کښې مرسته کول،تجارت ته وده ورکول او دې ته باقاعده شکل ورکول،تعلیم،دپاکستان او افغانستان ترمنځه د اوبو لوظنامه ،دملزمانو د تبادلې لوظنامه او په پولو مشترکه ګشت کول په راتلونکې مذاکرو کښې شامل کړې شي[14]. | 1. کوشش روان دې چې دا ټول موضوعات په مذاکرو کښې شامل کړې شي. |
| 10 | **د ترهه ګرۍ مخ نیوي عملیاتو کښې مرستوته وده ورکول**[15] | **1.** د پاکستان افغانستان او ایساف د پوځي چارواکو ترمنځه دمۍ په څوارلسمه نېټه دوه زره دولسم پنډۍ کښې شوې غونډه کې د ترهه ګرۍ د مخنیوي په چارو غور اوشو همداراز په یوویشتم نومبر کال دوه زره دولسم کابل کښې شوې شپږ. دیرشم درې اړخیزه غونډه کې د پاکستان افغانستان د پوځي چارواکو او ایساف د مشرانو ترمنځه هم په دغه اړه خبرېا وشوې.<br>**2.** پنډۍ کښې د جون په نهمه نېټه کال دوه زره دیارلسم د پاکستان افغانستان او امریکا د پوځي مشرانو درې اړخیزه غونډه اوشوه چې پکښې د ایساف قماندان جنرل جوزف ایف ډینفورډ، د افغانستان لخوا جنرل شېر محمد کریمي او د پاکستان لخوا پوځي مشر جنرل اشفاق پرویز کیاني ګډون اوکړو.دې دوران درې وانړو مشرانو د خپل منځي مفاداتو په چارو خبرې اوکړې چې پکښې په پاک افغان پوله رابطې زیاتولو او د پولو د قابو کولو دپاره په روانو عملیانو خصوصي پاملرنه ورکړې شوې وه.<br>**3.** په یو کم دیرشم اکتوبر دوه زره دیارلسم کال لندن کښې شوي په درې اړخیزه ملاقات کښې د پاکستان وزیراعظم نواز شریف او افغانستان اولسمشر حامد کرزئ د دې خبرې سره اتفاق اوکړو چې ډېر زر به د دوانړو ملکونو داخله وزیران ملاقات کوي چې |

12. Order of the Day, Senate of Pakistan December 03, 2013 http://www.senate.gov.pk/uploads/documents/1386047194_429.htm
13. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
14. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
15. Pak-US-Afghanistan Trilateral Meeting, June 08, 2013 http://ispr.gov.pk/front/main.asp?o=t-press_release&date=2013/6/8

| | | |
|---|---|---|
| | | پکښې به د پولو د امنیت په چارو غور کوي. ددې ملاقات دپاره به دوانړه ملکونه نېټې ټاکي[16]<br>**4.** افغان ولسمشر اشرف غني سره د ملاقات په وخت وزیراعظم نوازشریف د پاکستان هغه عزم تکرار کړو چې د ترهه ګرۍ او بنسټ |
| | | پالۍ په ضد به شریکه هلې ځلې کوي.وزیراعظم د ضرب عضب په نوم پوځي عملیاتو مثبت اړخونه هم په ډاګه کړه.هغه د امنیت لړ کښې د شریکو ننګونو په ګډه سره د مقابلې اهمیت هم په ډاګه کړو. |
| 11 | **د ترهه ګرو د پټنځآیونو په اړه د اندیښنو ختمول** | **1.** د دوانړو ملکونو د پوځي او سیاسي مشرانو په یو شمیر غونډو کښې په دې معامله خبرې شویدي.<br>**2.** په شپږم نومبر دوه زره ځوارلسم د پاکستاني پوځ مشر جنرل راحیل شریف د کابل، افغانستان سفر کړې وو.دې دوران د سېکورټي چارې افغان ملي اردو ته د اړولو، افغانستان نه د امریکائي او ایساف ځواکونو د وتو د پاکستان افغانستان ترمنځه دوه اړخیزه اړیکو مضبوطولو په چارو په خاص توګه د پولې د انتظام په طریقه کار، استخباراتو په تبادلې او شفافیت غور اوشو. د ملاقات دوران د دوانړو ملکونو ترمنځه پوځي تعلقاتو زیاتولو په چارو هم خبرې اوشوې. جنرل راحیل شریف د پاکستان په پوځي ادارو کښې افغان سېکورټي فورسز ته د هر قسمه روزنې ورکولو وړاندېز هم وکړو. نوموړي د پوځي تعمیراتو په ځانګه کښې هم د هر قسمه روزنې او الاتو د فراهمۍ وړاندیز هم اوکړو.[17] |
| 12 | **د دفاع په چارو پارلیمان له لوئې ځار پکار دې.[18]** | **1. دې لړ کښې پاکستان کښې ډېر پرمختګ په نظر راځي.** |
| 13 | **باید چې پارلیماني غړي یو سیاسي سوچ خپل کړي (د اولسي خواهشاتو مطابق) چې ورسره د دوانړوملکونو تعلقات ښه شي[19]** | **1. د پارلیماني غړو ترمنځه په یو شمېر ناستو کښې په دې خبره ټینګار شوېدې چې دوي د اولسي خواهشاتو مطابق سوچ خپلول غواړي چې ورسره به تعلقاتو ته وده اورسي.** |

16. Trilateral Meeting between Pakistan, Afghanistan and US, June 09, 2013 http://www.ispr.gov.pk/front/main.asp?o=t-press_release&date=2013/6/8
17. http://pakembassykabul.com/news_events.php
18. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
19. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514

| | | |
|---|---|---|
| 14 | **نشه ایز توکي او د ترهه ګرو مالي مرستي:پکار ده چې د نشه ایز توکو د کر او رسد بشپړ مخنیوي اوکړي شي څکه چې دا سیمه کښې د ترهه ګرو د مالي مرستو په جوړ کارول کېږي.**[20] | **1.** پاکستان د د ملګروملتونو د قراردادونو په رڼا کښې د ترهه ګرو د مالي مرستو مخنیوي دپاره یو شمیر قانون سازي کړېده.<br>**2.** پاکستان په دوه زره دولسم کال کښې د نومبر په دولسمه او دیارلسمه نېټه اسلام آباد کښې دنشته ایز توکو د مخنیوي لړ کښې د وزیرانو په کچ غونډه تابیا کړې وه.<br>**3.** د نشه ایز توکو په معامله د پاکستان خارجه وزیرې حنا رباني کهر او دهغې افغاني سیال ډاکټر زلمي رسول ترمنځه خبرې اترې شویدي کله چې نوموړي په دیرشم نومبر دوه زره دولسم کال د اسلام آباد سفر کړې وو.هغه وخت د دوانړو اتفاق شوې وو چې د ترهه ګرۍ او نشه ایز توکو به په شریکه مخنیوي کوي.<br>**4.** پاکستان د هغه درې اړخیزه کمشن (TI) برخه ده چې پکي افغانستان او ایران هم شامل دي او مقصد ئې د نشه ایزو څیزونو د قاچاق مخ نیول دي.<br>**5.** پاکستان افغانستان د استنبول پروسېCBM ترلاندې هم د یو بل سره د نشه ایزو توکو مخنیوي کښې مرسته کوي.CBM د روسیې فېډرېشن په مشرۍ کښې کار کوي او ورسره سیمه ملکونه هم دې کښې شامل دي. |
| 15 | **دوانړو ملکونو ترمنځه د پولو انتظام غوره جوړول** [21] پارلیماني غړو د دوانړو ملکونو ترمنځه د پولې د غوره انتظام دپاره د کوټلي او اثرناکه اقداماتو په ضرورت زور ورکړو[22] | **1.** د دوانړوملکونو ترمنځه د پولو انتظام په چارو کښې پرمختګ شوېدې څکه چې د دوي شریکو تکنیکي ورکنګ ګروپ بعضې غونډې هم شویدي چې پکښې د کسټم په ډېټا تبادله او بائیو مېټرک سسټم خبرې شوې.<br>**2.** پاکستان افغانستان په دریشم نومبر دوه زره دیارلسم په دې خبره اتفاق کړې وو چې د دوي به د پولو د انتظام او په دې د ترهه ګرو د کاروایانو مخنیوي دپاره د بارډر کمشن په نوم یوه اداره جوړوي.<br>**3.** د فرورۍ په نهمه نېټه کال دوه زره څوارلسم د داخله چارو سپکټر ښاغلي شاهد خان د کابل سفر وکړو او هلته ئې د افغانستان د سینئر مرستیال داخله وزیر جنرل ایوب سانګي سره ولیدل. د ملاقات دوران د پولو د انتظام په چارو،د ویزو په |

20. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
21. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
22. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians Dialogue-XI, held on December 17-18, 2013 in Kabul. The joint statement of the Dialogue can be accessed at: http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=669

| | | |
|---|---|---|
| | | مسلو، او د قېديانو د تبادلې په چارو خبرې اوشوې. د دې خبرې سره اتفاق وشو چې د پولو د انتظام د پاره جوړ کړې شوې شریک کمېسون باید چې کار شورو کړي. دغه کمېسون به د افغانستان د سپنئرمرستیال داخله وزیر او د پاکستان داخله سېکټر په مشرۍ کښې کار کوي. دوانړو غاړو په دې هم اتفاق وکړو هغه څوک چې په قانوني طریقه د یو بل ملک ته ځي راځي باید چې ورته د ویزو لړ کښې آساني پېدا کړې شي.[24] |
| 16 | د استخباراتو تبادله او مرستې[25] | **1. د پاکستان افغانستان استخباراتي ادارو مشرانو د فرورۍ په میاشت کال دوه زره دیارلسم کښې لند کښې شوې درې اړخیزه غونډه کښې یو بل سره لیدلي وو.**<br>2. د پاکستان افغانستان د پوځي عملیاتو مشران یا DGMOs په څلورمه جولائی کال دوه زره څوارلسم اسلام آباد کښې ولیدل او په دې خبره متفق شو چې د غلط فهمیو ختمولو دپاره به په شریکه کار کوي ځکه چې دې سره د دوانړو ملکونو ترمنځه اړیکو باندې بدې اغیزې پرېوځي. دوانړو ډلو په دې خبره هم اتفاق وکړو چې خپله خاوره به د یو بل خلاف یا بل کوم ګاونډي ملک په ضد استعمال ته نه پرېږدو.[26] |
| 17 | ویزو کښې اساني[27] | 1. پاکستان افغانستان کاروباریانو ته د اوږدې مودې ویزې ورکړېدې.په دیارلسم نومبر کال دوه زره څوارلسم د دوانړو ملکونو د خزانې وزیرانو دغونډې دوران د افغانستان د خزانې وزیر ووئېل چې دوي به د پاکستان کاروباري او خواري کښو ته د اوږدې مودې ملټې پل ویزه ورکوي. |
| 18 | د رابطو شبکو ته وده ورکول: هوائي سفر، سړک او رېل نېټورک (کابل نه پېښور پورې)، او ټېلیفوني[28] | 1. د پاکستان افغانستان د شریک اقتصادي کمشن په اتمه غونډه کښې کومه چې دوه زره دولسم کال جنورۍ میاشت کښې اسلام آباد کښې شوې وه هغې کښې دا پرېکړه اوشوه چې د پاکستان په مالي مرستو رواني |

24. https://www.ispr.gov.pk/front/main.asp?o=t-press_release&id=2702
25. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
26. http://nation.com.pk/national/04-Jul-2014/pak-afghan-dgmos-strike-a-border-deal
27. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
28. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514

| | | |
|---|---|---|
| | | منصوبې دې پائې ته اورسول شي.هيله ده چې نهمه غونډه به ډېره زر اوشي.<br>2. د شريک اقتصادي کمشن نهمه غونډه د دوه زره څوارلسم کال فرورئ مياشت کښې کابل کښې وشوه. دوانړو غاړو د خپل منځي تجارت او اقتصاد نه سربېره د افغانستان بياودانئ او ترقئ لړ کښې د پاکستان په کردار خبرې وکړې. شريکې اقتصادي غونډه کښې د دې خبرې سره اتفاق وشو چې دوه اړخيزه تجارت پراختيا دپاره به په ګډه کار کوي. د پاکستان د خزانې وزيرد تورخم ـ جلال آباد دوه اړخيزه لوئې سړک او پختورګو يا ګردو د نشتر روغتون د کار بيا پرانسته وکړه، کوم چې د پاکستان په مرسته جوړېږي.<br>3. دوانړو ملکونود دې خبرې سره هم اتفاق وکړو چې د رابطونورو ښه جوړولو دپاره به د پېښور او کابل ترمنځه موټروې جوړول شي دا شان به د پېښور جلال آباد او چمن سپين بولدک ترمنځه د ريل ليکه غزولې شي. |
| 19 | **د مطبوعاتي ادارو او غړو تګ راتګ (اليکټرانک او پرنټ)[29]** | 1. د خبريالانو د تبادلې پروګرام په عام توګه د مختلفو ادارو لخوا کېږي. |
| 20 | **د افغان زده کوونکو دپاره غوره آسانۍ او مرستې[30]** | 1. پاکستان درې زره افغان زده کوونکو ته له خپلې خوا په پاکستاني تعليمي ادارو کښې د فل سکالرشپ وئيلي دي. افغان زده کوونکو ته په دوه زره څوارلسم کال کښې شپږ سوه سکالرشپونه ورکړې شويدي.<br>2. .پاکستان افغانستان کښې په يوشمير تعليمي ادارو مالي خرچ هم کوي لکه رحمان بابا ښونځې،بلخ پوهنتون کښې لياقت علي خان انجنيرنګ فيکلټي، د سائنس دپاره ننګرهار پوهنتون کښې سرسيدګرېجوېټ فېکلټي ،جلاج آباد او کابل پوهنتون کښې د بشرياتو د لوستې دپاره علامه اقبال فېکلټي. |
| 21 | **د پاکستان افغانستان لوئې بېنکونه بايد چې د يو بل ملک کښې بېسل کمېټئ III ترلاندې څانګې پرانيزي چې ورسره د پيسو په غلطه توګه د لېږلو او دا د ترهه ګرو د پاره استعمالولو مخنيوي اوشي[31].** | |

29. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
30. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
31. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514

**دسمبر دوه زره څوارلسم**

| | | |
|---|---|---|
| 22 | **د دوانړوملکونو پارليماني غړو ته بغېرد ويزو د يو بل ملک ته دتلو اجازت**[32] | 1. د سارک ملکونو ترمنځه د پارليماني غړو د يو بل ملک ته بغېر د ويزو تلو عمل د ويزه اېګزمشن سکيم ترلاندې روان دې.(دوانړه پاکستان او افغانستان د سارک غړي دي.) |
| 23 | **د دوانړوملکونو کاروباري او پانګه کارانو خلقو له بايد چې د يو بل ملک کښې ښې موقعې ورکړې شي چې داشان دکاروبار او تجارت د لار دوانړوملکونو تعلقات نور مضبوط کړې شي.**[33] | 1. په ديارلسم نومبر کال دوه زره څوارلسم د دوانړو ملکونو د خزانې وزيرانو د ملاقات په وخت د غبرګو ټېکسونو په معامله خبرې شويدي.4 |
| 24 | **د افغان کډوالو افغانستان ته زر تر زره په عزت او وقار سره واپسي**[34] | 1. پاکستان قريباً درې ملينه افغان کډوالو ته خپل ملک کښې ځائې ورکړې. په دوه زره ديارلسم کال کښې کابينې د يوې نوې پاليسۍ منظورۍ ورکړه چې يوديرشم دسمبر کال دوه زره پنځلسم پورې به رجسټر افغان کډوال پاکستان کښې په دې هيله ايسار وي چې دوي به په عزت سره په خپله خوښه کورونو ته ستنېږي.<br>2. نوي افغان حکومت د افغان کډوالو وطن ته ستنولو کښې زړه خوښې ښکاره کړېده. په يوکم ديرشم ستمبر کال دوه زره څوارلسم د سوګند پورته کولو دستورې په وخت د افغانستان جمهور رئېس ښاغلي اشرف غني ووئېل چې د دوي حکومت غواړي چې پنځه ملينه افغان کډوال بېرته وطن ته راولي. |
| 25 | **بايد چې دوانړه ملکونه د ملزمانو د تبادلې يوه لوظنامه لاس ليک کړي**[35]**.** | 1. **هر څو که د پاکستان افغانستان ترمنځه داسې څه قسمه لوظنامه نشته،خو بيا هم پاکستان يو شمير افغان بندي طالبان خوشې کړيدي چې پکښې ملا برادر هم شامل دې او** |
| | | **ددې مقصد دافغانستان امنيتي او مفاهمتي عمل کښې آسانی پيدا کول دي.**<br>2. د قېديانو د تبادلې لړ کښې د شريک کمشن جوړولو دپاره هلې ځلې رواني دي. |
| 26 | **کرکټ ته د ودې ورکولو ضرورت دې چې ورسره د اولسونو ترمنځه رابطې زياتې شي**[36]**.** | 1. په دوه زره يوولسم کښې د پاکستان اے او دافغانستان د ملي لوبډلې ترمنځه د کرکټ يو سرېز شوې وو.د دې سره سره افغانستان کرکټ ټيم وخت په وخت پاکستان کښې کېدونکې نورو کرکټ مقابلو کښې هم برخه اخلي. |

32. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
33. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
34. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
35. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
36. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514

| | | |
|---|---|---|
| | | **2.** افغان ملي لوبډلې دبئ کښې په اتم دسمبر دوه زره دیارلسم دپاکستان خلاف ړوبی ټي ټوئنټي کرکټ مېچ هم کړېدې.<br>**3.** د نومبر په شپاړسمه نېټه کال دوه زره ځوارلسم دافغان ولسمشر اشرف غني پاکستان سفر په وخت د پاکستان افغانستان د کرکټ اے لوبډلو ترمنځه د شل شل اوروونو یو دوستانه مېچ وشو. |
| 27 | **د اوبو په وېش باید چې یوه لوظنامه اوشي.دا لوظنامه باید چې د دوانړوغاړو پارلیماني غړي منظوره کړي**[37] | **1.** پاکستان افغانستان ته خواست کړېدې چې د اوبو په معامله ورسره خبرې اوکړي. خو افغانستان غواړي چې اول د اوبوخپله پالیسي جوړه کړي. |
| 28 | **دسیمې د امنیت او سېکورټۍ په اړه د درې اړخیزه کمیسون د برخې سره سره باید چې پاکستان اوافغانستان پوځونه او سېکورټي اداري دوه اړخیزه مرستو ته هم وده ورکړي**[38]**.** | 1. په نولسمه جولائی دوه زره دولسم د افغانستان پاکستان او ایساف ترمنځه یوه لوظنامه لاس لیک شوېده چې ترمخه به ئې ټول د یو بل سره د سرحداتو سېکورټۍ لړ کښې هم غړي او مرستې کوي.<br>**2.** په دریم اکتوبر دوه زره دولسم د پاکستان او افغانستان DGMOs ملاقات کړې وو.<br>**3.** د افغانستان د ملي اردو یو پلاوي د DGMO مېجر جنرل افضل امان په مشرۍ کښې د پاکستان سفر کړې وو چرته چې دوي د پاکستاني DGMO مېجر جنرل اشفاق ندیم او نورو سره لیدلي وو او ورسره ئې د پولو د سېکورټۍ په اړه خبرې کړې وې.دې دوران د سرحد سره په تړلې ټولو چارو خبرې اوشوې چې پکښې د مهمندو کښې د چېک پوسټ په جوړولو او دا معامله په سم ډول هوارولو خبرې هم شاملې وې[39].<br>**4.** د دوه زره ځوارلسم کال جولائی په دریمه نېټه د افغان ملي اردو یو لوړ پایه پلاوي د پاکستان سفر وکړو او دلته ئې پوځي سردفتر دوره هم اوکړه.د افغان پلاوي مشري DGMO مېجر جنرل افضل امان کوله او ورسره دافغانستان ملي امنیت کونسل ، |

37. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
38. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
39. Pak, Afghan DGMOs discuss cross border coordination, April 16, 2013 http://www.dailytimes.com.pk/default.asp?page=2013\04\16\story_16-4-2013_pg7_3

| | | |
|---|---|---|
| | | استخباراتي ادارې او بارډر پولیسو استاذي هم وو. د پاکستان پلاوي مشري مېجر جنرل عامر ریاض DGMO کوله.دې دوران د پولې بلې غاړې نه توغندو ویشتو په معامله، د افغانستان په کنړ او نورستان ولایتونو کښې د وسله والو د پټنځایونو او په پاکستاني کلو د بریدونو په معامله خبرې اوشوې. دغه ملاقات ډېر په ښه ، دوستانه او پېشه وارانه ماحول کښې وشو. دوانړو ډلو د اعتماد زیاتولو، په هر حال کښې د خبرو اترو عمل جاري ساتلو د پولو د ښه انتظام د پاره په طریقه کار جوړولو هم اتفاق وکړو.<br>**5.** دوانړې ډلې غواړې چې د پولې خوندي ساتلو لړ کښې یو بل سره مرستې اوکړې شي. |
| 29 | **دغه قېدیانود تبادلې په اړه یو کمیسون جوړول چا چې ډېرخطرناک جرمونه نه وي کړي[40].** | 1. د افغانستان پخواني جمهور رئیس حامد کرزئي د پاکستان د سفر دوران کوم چې ده په لسم او یوولسم جون دوه زره یوولسم کړې وو ، دې او د پاکستان اولسمشر په دې متفق وو چې د قېدیانو دپاره یو کمیسون جوړ کړې شي.<br>2. په دیرشم نومبر دوه زره دولسم کال کښې د افغانستان دپخواني خارجه وزیردپاکستان دسفر دوران دوانړه غاړه په دې متفق شو چې باید اوس دغه کمیسون په عملي توګه خپل کار پیل کړي.<br>3. افغان دولت په اووم ستمبر دوه زره څوارلسم کال یو کم دیرش کسانو کښې باقي پاتې دوه د موسه خېل قام مشران هم پاکستان ته وسپارل کوم چې د دوه زره څوارلسم کال په پنځه ویشتم اګست د افغانستان په پکتیکا ولایت کښې افغان سېکورټي فورسز نیولي وو[41].<br>4. د قېدیانو د تبادلې لړ کښې د شریک کمشن جوړولو دپاره هلې ځلې رواني دي. |
| 30 | **د ځوانانو او کلتور د تبادلې لړ کې آسانی[42]** | 1. په دري ویشتم مارچ دوه زره پنځم د پاکستان اوا فغانستان حکومتونو لخوا یوه لوظنامه لاس لیک کړې شوې وه چې ترمخه به ئې د سپلګری په ځانګه کښې یو بل سره مرسته کېږي.دا مفاهمتي یاداښت به د پنځه کالو دپاره قابل استعمال وي او پنځه کاله پس به پخپله هم د دغه هومره موده دپاره بیا تجدید کېږي.<br>**2.** د پاکستان افغانستان ترمنځه د ادب او کلتور په اړه د یوې لوظنامې په مسوده هم خبرې رواني دي. |

40. For details, please see Meets Ghani, Abdullah: Gen Raheel offers to train Afghan security forces, The Express Tribune, November 07, 2014: http://tribune.com.pk/story/787130/meets-ghani-abdullah-gen-raheel-offers-to-train-afghan-security-forces
41. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
42. http://pakembassykabul.com/news_events.php

| | | |
|---|---|---|
| 31 | **حکومتونو له پکار ده چې د ترهه ګرۍ مخه اونیسي او مفاهمت کښې مرستې اوکړي.دوه زره څوارلسم روستو یو ښه ماحول په خاطر دوانړو حکومتونو له پکار ده چې د سیمه ایز امن او استحکام دپاره په شریکه کار اوکړي**[43] | 1. د افغانستان د ملي امنیت پخواني صلاحکار ډاکټر رنګین داد فر سپانتا دوه زره څوارلسم کال جون په شپږویشتمه نېټه اسلام آباد کښې د ښاغلي سرتاج عزیز سره ولیدل. دوانړو په دې خبره اتفاق وکړو چې ترهه ګرۍ د دوانړوملکونو شریک دښمن وو او د دې بلا ختمولو دپاره دوانړو له په شریکه هلې ځلې پکار دي. ددې مقصد دپاره ضروري ده چې د سېکورټي په خاطر یو شریک ورکنګ ګروپ جوړ کړې شي چې مشري به ئې په ګډه سره خارجه سکتران یا مرستیال خارجه وزیران کوي او د سېکورټي چارو سره تړلې ادارو نمائندګان به هم په دې کښې موجود وي. سېکورټي معاملو کښې د مرستو زیاتولو دپاره دوانړه د متعلقه چارواکو په غونډو کولو هم صلاح شول[44].<br>2. افغان ولسمشر اشرف غني سره د ملاقات دوران پاکستاني وزیراعظم نواز شریف د ترهه ګرۍ او بنسټ پالۍ ختمولو عزم تکرار کړو. وزیراعظم د ضرب عضب نومې پوځي عملیاتومثبت اړخونه هم په ډاګه کړه.ده د مشترکه دښمن په ضد مشترکه هلو ځلو په اهمیت هم رڼا واچوله.<br>3. |
| 32 | **د یو بل سره ، سیمې سره او نورې نړۍ سره د ارتباط د لار کولې شو چې د سیمې د معاشي موقعو نه ګټه پورته کړو**[45] | 1. **دوانړه ملکونه د توانائۍ او ارتباط په نورو پروژو لکه رېل، سړک او د سیمې بنیادي ډهانچې دمرستو په پروژو کښې شریک دي**<br><br>2. **پاکستان افغانستان وئیلي دي چې باید په ترانزټ تړېډ لوظنامه کښې تاجکستان هم شامل کړې شي.** په کاسا ۱۰۰۰ او تاپي ګېس پائپ لائن پروژو کښې بعضې پرمختګ شوېدې. دوانړه حکومتونه د کاسا ۱۰۰۰ برېښنا لوظنامې لړ کښې د یو کلو واټ په سر یو اعشاریه دوه پنځه سېنټه راهدرۍ باندې هم موافقې ته رسېدلي دي. دوانړه هیوادونه د استنبول پروسې ترلاندې د سیمه ایزې بنیادي ډهانچې **CBM** کښې هم برخه اخلي. |

43. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue III, held on December 20-21, 2011 in Islamabad, The Joint Statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=514
44. The recommendation was made at Pak-Afghan Parliamentarians' Dialogue-X held on October 01-02 in Islamabad. The joint statement of the Dialogue can be accessed at http://www.pildat.org/eventsdel.asp?detid=655
45. http://pakembassykabul.com/news_events.php

اضافه شوي

اضافه شوېA

گډه اعلامیه
د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو څلورمه مذاکره
یو کم دیرشم، دیرشم مارچ دوه زره یوولسم: اسلام آباد، پاکستان

د پاکستان او افغانستان پارلیماني غړو په یو کم دیرشم او دیرشم مارچ دوه زره یوولسم کال کښې اسلام آباد کښې اولیدل او یو بل سره ئې د دوه گاونډي اسلامي ملکونو د تعلقاتو په اهمیت او اثراتو خبرې اوکړې.

د افغانستان د سېنټ او قامي اسمبلی (مشرانو جرگې او اولسي جرگې) شل تني پلاوي د پاکستان سفر اوکړو اودلته ئې د خپلو هم پايو سره د ترهه گرۍ، افغان ترانزټ ټرېډ په گډون د اولسونو یو بل ته نزدې کولو لړ کښې د مېډیا په کردار او نورو خپل منځي گټو په چارو تفصیلي خبرې اوکړې.

دوانړو غاړو په دې خبره ټینگار اوکړو چې د ترهه گرۍ خلاف باید په شریکه هلې ځلې اوکړې شي ځکه چې دې نه یواځې سیمې ته مرگ ژوبله او تباهي اړولې ده بلکه دا د پاکستان افغانستان په ترقۍ کښې هم لوئې خنډ دې.دوي په دې هم زور راوړو چې باید پارلیماني غړي دوانړه ملکونه یو بل ته نزدې راوستو کښې مرسته اوکړي او د بل ملک لخوا په گوته کړې شوې مسلې ختمولو لړ کښې په خپل خپل حکومت دباو هم واچوي.دوانړو ډلو اووئیل چې یو کمیسون جوړول پکار دي ، کوم چې د وړاندې نه جوړ کړې شوېدې، چې دوانړو ته مهمو مسلې په گوته کړي.د دې کمیسون به یو کار داهم وي چې دهغه مسلو د حل لارې اولټوي دکومو اغیزي چې دوانړوملکونو په تعلقاتو پریوځي.

د پارلیماني غړو خیال وو چې د دوانړو ملکونو استخباراتي ادارې خپلو خپلو مفادو ته گوري خو داسې کښې ترهه گرۍ د دوانړو یو شریک دښمن دې او دوانړو استخباراتي ادارو له د دې په ضد په شریکه کار پکار دې.

پارلیماني غړو د افغان ترانزټ ټرېډ توکو تر ډېرې مودې پاکستان کښې په اېسارولو هم اندېښنه څرگنده کړه اووې وئل چې دې سره تاجرانو ته لوئې مالي زیان رسي.دوي په دې خبره صلاح وو چې د دې مسلې د حل دپاره لارې لټول ضروري دي چې ورسره د دوانړوملکونو دتاجرانو او کاروباري رورولۍ مسلې اسانې شي.

پارلیماني غړو د اولسي رائې په جوړولو کښې دمېډیا د کردار اهمیت ذکر اوکړو.مېډیا کولې شي د ناباورۍ ختمولو کښې خپل مهم کردار ترسره کړي کومه ناباوري چې د بده مرغه اوس هم د دوانړو اولسونو ترمنځ موجود ده.دوانړو غاړو په دې اتفاق اوکړو چې د دوي بله ناسته به سخکال مئ میاشت کښې کابل کې کیږي.

اضافه شوې B

گډه اعلامیه
د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو پنځمه مذاکره
یو کم دیرشم، دیرشم مئ دوه زره یوولسم: کابل ، افغانستان

دیرشم مئ کابل:د پاکستان افغانستان د پارلیماني غړو پنځمه ناسته د مئ په یو کم دیرشمه او دیرشمه نېټه دوه زره یوولسم کال کابل کښې اوشوه چې پکښې د ترهه گرۍ په موضوع خبرې اوشوې.پارلیماني غړو ډېر په ښه چاپېریال کښې خبرې اوکړې او دوې وینا وه چې پاکستان افغانستان دوانړه د ترهه گرۍ ښکار دي او د دې مسلې نه وتو دپاره به دوانړو له په شریکه کار کول وي.

دوانړو غاړو په دې اتفاق اوکړو چې تورونه الزامونه په هېڅ جوړ هم گټور نه دي او دا دمسلې حل هم نه دې بلکه پارلیماني غړي کولې شي چې د دوانړوملکونو په چارواکو او لوړ پوړو دباو واچوي چې خپلو کې یو بل سره مرستې اوکړي،استخباراتي معلومات شریک کړي،د ترهه گرۍ خلاف مبارزه کې مرستې زیاتې کړي،په موثره توگه د نشه ایزو توکو کر اوقاچاق مخنیوي او کړي او د پولو د څارانتظام په سم جوړ اوکړې شي نو ورسره به پخپله د سیمې نه ترهه گري ختمه شي.دوي په دې هم باوري وو چې د دوانړو ملکونومرکزي بېنکونو له د یو بل ملک کښې د سفارښتونو ترمخه بېسل کمېټۍ III څانگې پرانستل پکار دي چې ورسره د پیسې په غلطه طریقه د لېږلو او دا غلطو لاسو ته ورتلو نه بچ شي کوم چې د ترهه گرۍ دپاره کارول شي.

د دوانړو غاړو د پارلیماني غړو اتفاق وو چې باید ددوانړو ملکونو منتخب اداري د اولسي خواهشاتو مطابق پالیسۍ خپلې کړي چې پکښې داخلي او خارجي امنیت هم یقیني وي او داسې آزادې پالیسۍ چې پکښې د بل مفاداتو ته هم زیان نه رسي.پارلیماني غړي په دې نظر وو چې د سېکورټۍ په اړه د درې اړخیزه کمیسون سره سره باید چې پاکستان افغانستان خپلو کښې هم په پوځي او استخباراتي کچ د یو بل سره مرستې اوکړي.

دوي په دې متفق وو چې باید دوانړه ملکونه داسې مېکنزم خپل کړي چې ورسره د غیر سرکاري تنظیمونو په پنځو نظر اولري او په نړیوالو امدادي ادارو ټینگار اوکړي چې د خپلواکه ادارو په جوړښت کښې ورسره مالي مرسته اوکړي.

دوي په دې خبره هم اتفاق اوکړو چې د دوانړو ملکونو پارلیماني غړو دپاره بغیر د ویزې د یو بل ملک ته تگ راتگ دې زر تر زره عملي کړې شي.دوانړو ملکونو کښې نزدې مرستې پکار دي او پارلیمان له ضروري ده چې دویزو او نورو پالیسو باندې ژور نظر لري اوورسره ورسره د سړک، ریل ، هوائي سفر ، ټیلیفون په ذریعه رابطو ته او تجارت ته وده ورکول پکار دي .

د دوانړو گاونډي ملکونو پارلمیاني غړو فیصله اوکړه چې د مېډیا د رابطو او تبادلو سره د اولسونو ترمنځه رابطو ته وده ورکړې شي او دې کښې دې الیکټرانک او پرنټ مېډیا او سرکاري او غیر سرکاري مېډیا ته د یو بل ملک کښې د خپرونو اجازت ورکړې شي.دوي ټینگار اوکړو چې د دوانړوملکونو سرمایه کار او کاروباري خلقو ته د پانگه کارۍ او کاروبار گټورې موقعې په لاس ورکړې شي چې داشان د دوانړو ملکونو ترمنځه تجارت او کاروبار مضبوط شي.

د دوي وینا وه چې د افغانستان زده کوونکو ته باید آسانۍ پیدا کړې شي او ورته دا موقع په ورکړې شي چې د سکالر شپ په ذریعه دوي په پاکستاني تعلیمي ادارو کښې زده کړې اوکړي،روزنه واخلي او پیاوړتیا لا نوره سېواکړي.د ځوانانو او هنرمندانو ترمنځه د تبادلو پروګرامونه پکار دي او د ولسي رابطو زیاتولو په خاطر د کرکټ لوبې ته وده ورکول ضروري دي.

د پارلیماني غړو خیال وو چې باید د ملګري ملتونو په مرسته افغان کډوال زر ترزره په عزت او احترام سره واپس ستانهٔ کړې شي.د دې نه سربېره دوانړو ملکونو له د مجرمانو د تبادلې یوه لوظنامه هم لاس لیک کول پکار دي، ورسره ورسره یو داسې کمیسون جوړول پکار دي چې د هغه قیدیانو د تبادلې لړ کښې آسانۍ پیدا کړي څوک چې په لویو جرمونو کښې نه دي ککړ.

پارلیماني غړو ټینګار اوکړو چې باید دوانړه پارلیمانونه د نباورۍ ختمولو لړ کښې خپل کردار ترسره کړي د کومې دلاسه چې د دوانوړ روڼو ملکونو ترمنځه تعلقات خراب دي.د دوي وینا وه چې د دوانړو ملکونو پارلیمانونه په واکمنو ادارو زرو راوړي چې مذاکراتي عمل شورو کړي، او داسې مسودې تیارې کړي چې د دوانړوملکونو په ګټه کښې وي او چې یو ځل دا لوظنامې اوشي پکار ده چې دوانړه پارلیمانونه د هغې منظوري ورکړي.

دوانړو ډلو د کتني په یو طریقه کار جوړولو هم ټینګار اوکړو او د پلډاټ د کردار ستائنه ئې اوکړه د چا په مرسته چې د مذاکرو لړۍ روانه ده.د پېټو صلاحیتونو رابرسېره کولو او دې نه فائدې پورته کولو دپاره د مذاکراتو لړۍ جاري ساتل پکار دي.او د شریکو اعلامیو او سفارښتونو باندې عملدرامد کولو سره مخ په وړاندې تلل کېدې شي.

د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو د دې خبرې سره اتفاق اوکړو چې د شوې ناستو او مذاکرو نه مخې ته راغلي سفارښتونه عملي کړې شي او دحکومتونو لخوا په دې د عملدرامد د جاج اخستو دپاره د دې مسلسل څآر پکار دې.

د پاکستان پلاوي کښې محترم سنېټر میر جان محمد جمالي څوک چې د سنېټ ډپټي چېرمېئن دې،ښاغلي فیصل کریم کنډي ډپټي سپیکر قامي اسمبلي،محترم سنېټر عبدالغفار قریشي مسلم لیګ ،محترمه فوزیه فخرالزمان پاکستان مسلم لیګ،محترمه سنېټره نجمه حمید مسلم لیګ ن،آغلې سنېټره سعیده اقبال، پیپلز ګوند،محترم سنېټر افراسیاب خټک عوامي نشنل ګوند،محترم سنېټر ډاکټر عبدالمالک ، محترم مالک احمد خان پیپلز ګوند،محترم داکټر محمد ایوب شېخ متحده قومي موومنټ،ښاغلي ندیم افضل ګوندل پیپلز ګوند،محترم پرویز خان عوامي نشنل ګوند،محترم سردار مهتاب احمدخان عباسي مسلم لیګ ن،محترم همایون سیف الله پاکستان مسلم لیګ،محترم سردار اوېس احمد خان لغاري پاکستان مسلم لیګ، ښاغلي احمد بلال محبوب ایګزېکټیو ډائرېکټر پلډاټ، آغلې آسیه ریاض جوائنټ ډائریکټر پلډاټ، ښاغلي حمل دوستېن او ښاغلي مامون بلال پروجېکټ منېجر پلډاټ شامل وو.

## اضافه شوې C

گډه اعلامیه
د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو شپږمه مذاکره
یوولسم دولسم دسمبر دوه زره یوولسم: کابل ، افغانستان

د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو ترمنځه مذاکرات د دسمبر په شلمه او یوویشتمه نېټه دوه زره یوولسم اسلام آباد کې اوشو.د دې مذاکرې ټوله پاملرنه د تیرو دوه مذاکرو(یو کم دیرشم نه تر یو دیرشم مارچ دوه زره یولسم او یو کم دیرشم ، دیرشم مئي دوه زره یوولسم) په سفارښتونو د شوې پرمختګ جاج اخستل، افغان ترانزټ ټرېډ،د پاکستان افغانستان ترمنځه ترانزټ ټرېډ،د دوانړو ملکونو د پانګه کارانو دپاره د پانګه کارئ موقعې لټول او د دوه زره څوارلسم روستو د افغانستان نه د ناټو او ایساف ځواکونو وتو روستو د پاکستان او افغانستان تعلقاتو جاج اخستل وو.

پارلیماني غړو د دې خبرې سره اتفاق اوکړو چې په دوانړو حکومتو نو د مذاکرو سفارښتونو عملي کولو دپاره زور اچول او دا چې په دغه سفارښتونو به د پاکستان په سېنټ او قامي اسمبلۍ کښې او د افغانستان په مشرانو جرګه او اولسي جرګه کې بحث کول وي.د دې درې وانړو مذاکرو ګډې اعلامې چې د دې کاغذ په آخېره کې ده، دا به د پاکستان او افغانستان په ایوانونو کښې وړاندې کول د مذاکرو د ګډون کوونکې پارلیماني غړو زمه واري وي.د دوانړو غاړو پارلیماني غړو د دې خبرې سره هم اتفاق اوکړو چې د ملاقاتو دا لړئ باید روانه اوساتلې شي او ددې سفارښتونه پکار ده چې د دوانړو ملکونو پالیسو کښې په نظر راشي.

دوي په دې هم ټینګار اوکړو چې د دوانړوملکونو د تعلقاتو ښه کولو دپاره ضروري ده چې د دوانړو ملکونو ترمنځه تجارت ته وده ورکړې شي او د دوانړوترمنځه د دوستانې پلونه جوړ کړې شي.د پاکستان افغانستان ترانزټ ترېډ په لار کښې ولاړ بعضې خنډان لکه د انشورنس ګارنټي باید چې په اتفاق سره له منځه یوړې شي.د دوي وینا وه چې د دوانړو ملکونو پانګه کارانو ته زړه راخکونکې موقعې ورکولو سره کولې  تجارت ته وده ورکړې کېدې شي. د دوي په خبره پاکستان افغانستان ترانزټ ټرېډ باید چې تر سوئیلي آسیائي ریاستونو اوغزولې شي.د تجارت او کاروبار په لار کښې غلطې طریقې باید چې په داسې جوړ ختمې کړې شي چې ورسره دوانړوملکونو د سرمایه کارانو مفادات خوندي شي.

د پاکستان افغانستان پارلیماني غړي د دې خبرې سره متفق وو چې د دوانړو ملکونو معاشي تعلقات په داسې ډول مخ په وړاندې بوتلل پکار دي چې ورسره د افغانستان بیا ودانۍ عمل کښې د پاکستان د کردار ډاډګېرنه اوشي.د دوي په خبره د بنیادي ډهانچې جوړول په خاص توګه چې د پولو سره نزدې دي بایدچې هغې ته خاص اهمیت ورکړې شي، او د ریل او سړک رابطې هم پسې سپوا کړې شي ځکه چې دا د معاشي ترقۍ دپاره ډېر اهم دي، او دې لړ کښې د پېښور جلال آباد سړک نوي کولو ته په خاص نظر اوکتلې شي.دوي ټینګار اوکړو چې موجوده ښائسته سمیه ایز چاپېریال پکار ده چې د تجارت د پاره پکار راوستې شي.

محترم سنېټر بسم الله افغانمل د مشرانو جرګې غړې او محترم عبدالطیف پدرام د ولسي جرګې غړې دافغانستان لخوا د مذاکرې شریک مشران وو،او دپاکستان لخوا محترم سنېټر سلیم سیف الله خان د جارجه چارو،کشمیر او ګلګت بلتستان د پاره دسېنټ د قائمه د کمېټۍ چېرمېن د مذاکرې شریکه مشري

اوکړه.دوي سره د پاکستان د مخلتفو سیاسي ګوندونو سره تعلق لرونکي نور دپارلیمان غړي هم موجود وو.

د پاکستان لخوا چې په دې مذاکرې کښې کومې خلقو ګډون اوکړو هغې کښې سنېټر جهانګیر بدر د پاکستان پیپلز ګوند ستر سکتر،سنېټرې آغلې ډاکټر سعیده اقبال پیپلزګوند، سنېټر ایس ایم ظفر، سنېټر مولانا محمد صالح شاه قریشي،چوهدري نصیر احمد بهټه د قامي اسمبلۍ غړي،ښاغلي نور عالم خان، ښاغلي ریاض احمد فتیانه،سید اخوندزاده چټان ګډون لرولو

د افغانستان لخواد مذاکرې په ړومبۍ ورځ سنېټر عبدالشکور شکور، سنېټر احمد بشیر صمیم،سنېټر احمد معاون،سنېټر بحرام څمکني،سنېټر باز محمد زورمتی،سنېټره ملائکه مائلزاده،سنېټرمحمد امین احمدي،سنېټر محمد آصف عظیمي،سنېټر نعمت الله پوپل او سنېټرې ساره سرخابۍ ګډون لرلو.دا شان د اولسې جرګې نه مذاکرې کښې ښاغلي عبدالطیف پدرام، آغلې نظیفه ذکي، سید اسحاق ګیلاني،ښاغلي شریف الله کموال،حاجي شېر علي احمدزئ او مېرمن وړمه ساپۍ ګډون اوکړو.

# اضافه شوې D

گډه اعلامیه
د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو اوومه مذاکره
یوولسم دولسم دسمبر کال دوه زره دولسم: اسلام آباد، پاکستان

د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو په یوولسم دولسم دسمبر دوه زره دولسم کال اسلام آباد کښې د اوومې مذاکرې پر مهال اولیدل.

پارلیماني غړو په اهمومسلود مرستو او هواري دپاره د داقسمه ناستو په ضرورت زور راوړو.د دوانړو غاړو وینا وه چې مذاکرې او ډپلومیسي باید چې په سفارتي لارو اوکړې شي نه چې دمېډیا په ذریعه.
پارلیماني غړو تېره لږه موده کښې دتعلقاتو ښه کولو دپاره په سفارتي کچ پورته کړې شوې اقداماتو ستائنه اوکړه. ددوي وینا وه چې په مسلو او نباورۍ یواځې د زیاتو ملاقاتو او ناستو د لار قابو موندې شي.پارلیماني غړو اووئیل چې د پاکستان استحکام د افغانستان استحکام دې او دارنګ د افغانستان استحکام د پاکستان استحکام دې.د دوي په خبره دوانړو ملکونو له دمسلو حل په سیاسي بنیادونو لټول پکار دي.

پارلیماني غړو اووئیل چې دافغانستان نه د ناټو او ایساف ځواکونو وتو سره به پاکستان او افغانستان د بعضې مواقعو او بعضې ننګونو سره مخ شي.او دوانړو ملکونو له پکار ده چې په شریکه سره کار اوکړي چې ورسره چیلنجونه په موقعو کښې بدل کړي.

پارلیماني غړو د افغانستان مفاهمتي عمل جاري ساتلو او تیزولو په ضرورت زور راوړو.
دپارلیماني غړو وینا وه چې سیمه کښې به نه اوس د بل کوم یو هېواد مشري مني او نه به د خارجي قواوو وتو روستو دې ته څه قسمه ضرورت وي.

د دوي وینا وه چې د دوانړو ملکونو تعلقاتو او شریکو ګټو ته ترهه ګري یو لوئې اومشترک چېلنج دي.او دوانړو ملکونو له د شریک د ښمن ختمولو دپاره پکار ده چې په یو ځائې کار اوکړي.هر څو که پاکستان کښې وي یا که افغانستان کښې او پاکستان یا افغانستان کښې ترهه ګري کوي باید چې دوانړه ملکونه دا اودروي.

پارلیماني غړو د دوانړو حکومتونو نه غوښتنه وکړه چې د تجارت او کاروباري خلقو د تحفظ دپاره دې خصوصي انتظامات اوکړي.

پارلیماني غړو غوښتنه اوکړه چې دوانړو ملکونو کښې دې سېلګرۍ ته وده ورکړې شي.
پارلیماني غړو د پاکستان افغانستان ترمنځه د ستراتیجیکي تړون د مسودې هر کلي اوکړو اود دې د زر عملي کولو ئې اوویېل.

دوي د ملزمانو د تبادلې لړ کښې د جوړونکي کمیسون هم هر کلي اوکړو.دوي یو وار بیا ټینګار اوکړو چې د دوانړو ملکونو ترمنځه د مجرمانو د تبادلې هم یوه لوظنامه پکار ده.

دوي په دې خبره زور راوړو چې پارلیمانونه دې متعلقه ادارو ته اووائي چې په اهمو معاملو خبرې اترې شورو کړي او دغه لړ کې لوظنامې اوکړي.

د دوي په خبره د دوانړو غاړو اولسونو نمائندګانو له پکار ده د تعلقاتو ښه کولو لړ کښې خپل کردار ترسره کړي.پارلیماني غړو د تعلقاتو ښه کولو دپاره د نورو لارو لټولو لکه معاشي موقعې زیاتولو، تجارت کښې آساني پیدا کول د تعلیم ، ځوانانو او استاذانو د تبادلې پروګرامونو ضرورت دې.

د دوانړو غاړو خیال وو چې باید افغان زده کوونکو ته په پاکستان تعلیمي ادارو کښې د سکالرشپ پروګرامونو په ذریعه د لوستو زیاتې موقعې او آسانۍ ورکول پکار دي. چې پکې دوي د زده کړو سره سره هنر او نور ځیزونه هم زده کړي.

پارلیماني غړو ویزو د شرط نه آزاد تګ راتګ په ضرورت هم زور راوړو او وئې وئیل چې په اول سر کښې د ویزو شرط یواځې د پارلیماني غړو او کاروباري خلقو دپاره پکار دې او بیا په مزه مزه دې نورو خلقو ته هم دا آساني ورکړې شي.

د افغانستان پارلیماني غړو د اوږدې مودې دپاره د افغان کډوالو په مېلمستیا د پاکستان مننه او ستائنه اوکړه. دوي په دوانړو حکومتونو غږ اوکړو چې د افغان کډوالو په عزت او حترام سره واپسي دې زر تر زره یقیني جوړه کړي.د یورپي یونین په څېرد سوئیلي آسیا شریک پارلیمان تجویزهم مخې ته راغې او پارلیماني غړو د پاکستان او افغانستان په حکومت غږ اوکړو چې دې لړ کښې ګامونه پورته کړي.

دتیرو غونډو او مذاکرو د جاج اخستو په وخت د دوانړو غاړو پارلیماني ډلو تر دې دمه په سفارښتونو شوي عملدرامد باندې تسله ښکاره کړه خو زیاته ئې کړه چې باید دې ته دوام ورکړې شي او د دې باقاعده څار او دې لړ کښې هم غړي پکار ده.

پارلیماني غړو په داقسمه ناستو کښې د ټولو سیاسي ګوندونو، ډلو ، مذهبي او جنسي نمائندګۍ غوښتنه هم اوکړه.

د دوي په خبره دوانړو ملکونو کښې پارلیماني فرینډ شپ ګروپ له پکار ده چې د دوانړو ګاونډي ملکونو ترمنځه د ناباورۍ ختمولو دپاره خپل موثره کردار ترسره کړي.

د پالیماني غړو وینا وه چې باید د تیرو شپږو پارلیماني مذاکرو سفارښتونو ته دې زر تر زره عملي جامه واغوستل شي.او دې کښې دوي دا لاندې خصوصي تجویز کړې:

**I** ـ دوانړوملکونو کې د ترهه ګرو د پټنځایونو لړ کښې د یوبل اندېښنو ته اوکتل شي.

**II** ـ د نشته توکو په کر او قاچاق په موثره توګه بندیز پکار دې چې ورسره دا د ترهه ګرو د مالي مرستو په جوړ استعمال ته پرې نه ښودې شي.

**III**ـ د پیسو د ناقانونه استعمال او ترهه ګرو دمالي مرستو مخ نیوي دپاره بېنکونو کښې اصلاحات پکار دي.

**IV**ـ د پاکستان افغانستان د وسله والو ځواکونو ،استخباراتي ادارو او سېکورټي ایجنسو ترمنځه موثره رابطو ضرورت دې.

**V** - دوانړو ملکونو کښې د غیر سرکاري تنظیمونو په پنګو نظر ساتل
**VI** - د مواصلاتو رابطې لکه سړک، رېل فضائي سفر او ټیلیفون او ورسره ورسره تجارت ته وده ورکول
**VII** - د سرکاري او غیر سرکاري مطبوعاتي ادارو پرنټ او الیکټرانک مېډیا د تبادلو پروګرامونه جوړول او د یو بل په ملک کښې د خپرونو اجازت ورکول.
**VIII** - د راتلونکې مذاکرې دپاره پارلیماني غړو د افغانستان نه د ناټو او اسیاف ځواکونو دوتو اثرات، د مفاهمت عمل پرمختګ او د دې په افغانستان اثرات،دتجارت وده،تعلیم ، د اوبو لوظنامه،د ملزمانو د تبادلې لوظنامه او په پولو د مشترکه ګشت لوظنامه موضوع اوټاکله.
**IX** - د پارلیماني غړو په دې خبره اتفاق وو چې د مذاکرې نتیجه او شریکه اعلامیه به خپل خپل پارلیمان او خارجه دفتر ته رسوي.

د دې مذاکرې مشري په شریکه ښاغلي سنېټر عبدالولي راجي د مشرانو جرګې غړي او محترم میر وېس یاسیني چې د اولسي جرګې غړې دې کوله، ورسره سنېټر نثار احمد ،سنېټراحمد معاون،سنېټر محمد امین صافي،سنېټر بحرام خان ځمکنی،سنېټر باز محمد زورمتی،سید اسحاق ګیلاني،ښاغلي محمود خان سلیمان خېل، ښاغلي سخي مشواني،ښاغلي لطیف پدرام، ښاغلي عبدالغفار قائل، ښاغلي امیر محمد یاد او ښاغلي قدرت الله ذکي هم ګډون لرلو.

د پاکستان لخوا د مختلفو سیاسي ګوندونو سره تعلق لرونکي د پارلیمان غړ و دې مذاکره کښې ګډون اوکړو. دې غړو کښې محترم فیصل کریم کنډي، سنېټر محمد جهانګیر بدر،سنېټر راجه ظفرالحق،سنېټر حاجي محمد عدیل،سنېټر فرحت الله بابر،سنټر عبدالنبي بنګش،سنېټر حاصل خان بزنجو،سنېټر امر جېټ،سنېټره نجمه حمید، سنېټر نجم الحسن،سنېټره سعیده اقبال،سنېټر محمد صالح شاه قریشي،سنېټره نزهت صادق، مېرمن قدسیه ارشد،مېرمن طاهره اورنګزیب، ښاغلي نصیر بهټه،ښاغلي ریاض فتیانه،مېرمن جمیله ګیلاني،ښاغلي عبدالرشید ګوډېل،ښاغلي محمد ریحان هاشمي،ښاغلي آصف حسنېن،مېرمن سیمه جمالي،ښاغلي خرم دستګیر خان،ښاغلي اقبال محمد علي خان،مېرمن شرین ارشد خان،ښاغلي عبدالقادر خانزاده،مېرمن شګفته ثاقب،مېرمن عمرانه سعید،ډاکټر محمد ایوب شېخ،مېرمن تسنیم صدیقي،او میرمن سائره افضل ترار شامل وو.

اضافه شوې E

گډه اعلاميه
د پاکستان افغانستان پارليماني غړو اتمه مذاکره
لسم يوولسم ستمبر دوه زره ديارلسم کال: کابل ، افغانستان

د فاع د پاره د پاکستاني سېنټ قائمه کمېټۍ او د افغانستان د مشرانو جرگې د دفاع، کورني امنيت او ځائي انتظامئې د کمېټو وړومبۍ غوند د ستمبر په لسمه او يوولسمه نېټه دوه زره ديارلسم کال کابل کښې اوشو.

دوه ورځني ناسته کې توله پاملرنه په سېکورټۍ او دفاعي مرستو ورکړې شوې وه:د پاکستان افغانستان په تعلقاتو کې ولاړ او رامخې ته کېدونکي چيلنجونه؛د پولې يو خوا بلخوا ترهه گري،د نشته ايزو توکو قاچاق،د پول اتنظام،د افغانستان نه د ناټو وتو سره مخې ته کېدونکې چيلنجونه،د افغانستان مفاهمتي عمل د پاکستان افغانستان دفاعي مذاکرو ته باقاعده شکل ورکول وو.

پارليماني غړو د دې خبرې سره اتفاق اوکړو چې د دوانړوملکونو ترمنځه دفاعي مرستو ته ود ه ورکول پکار دي او ورسره ورسره د پاکستان افغانستان وسله والو ځواکونو او سېکورټې ادارو ترمنځه کلکې مرستې هم ضروري دي. د دوي وينا وه چې د اولسونو په مفادو کښې پاکستان او افغانستان له په سېکورټۍ،سيمه ايزو او اهمو ملکي چارو يو شان سوچ لرل پکار دي د کوم سره چې د دوانړو ملکونو په تعلقاتو اثر پرېوځي.د يوبل او سيمه ايز ارتباط سره کولې شو چې د پټو وسيلو او صلاحتيونو نه گټه پورته کړو.

د پارليماني غړو وينا وه د پاکستان او افغانستان سېکورټي ادارو او وسله والو ځواکونو يو بل ته لاس ورکړو نو کولې شي ډېر په ښه شان سيمه کښې ترهه گرۍ او بنسټ پالۍ ته ماتې ورکولې شي.د دوي وينا وه چې پاکستان افغانستان له خپلې سېکورټي ضروريات په نظر کښې ساتل پکار دي او دښمن ځانله کول پکار دي.دوي ټينگار اوکړو چې بايد د رابطو ټولې لارې خلاصې پرېښودې شي.

د پارليماني غړو باور وو چې که يو ځل په دوه زره څوارلسم کښې دافغانستان نه امريکائي او ايساف ځواکونه اووتل نو دلته به يوه خلا پاتې شي او دا خلا به يواځې د پاکستان افغانستان مدني ټولنې ډکولې شي، او ځکه ضروري ده چې پاکستان افغانستان دوانړو کښې رياست او جمهوري ادارو مضبوطيا ته پاملرنه پکار ده.د دوي وينا وه چې د دوانړو ملکونو دځوان کول ترمنځه هره ځانگه کښې د غوره رابطو ضرورت دې او د دې دپاره بايد چې ټولې وسيلې پکار راوستې شي.دوي په دې خبره هم زور راوړ و چې دوانړوملکونو کښې بايد د زنانو او بشري حقونو خيال اوساتلې شي او دې کښې د يو بل سره مرستې اوکړې شي.

د دوانړو ملکونو د دفاعي کمېټو غونډې باقاعده کولو دپاره د مذاکرې دوران يو مفاهمتي يادابنت هم لاس ليک کړې شو.

د غونډې مشري په شريکه سنېټر سيد فرخ شاه جناب او سنېټر حاجي محمد داود اساس کوله؛ دوي سره په پلاوي کښې سنېټره گلالۍ اکبري،سنېټر عبدالاحد سلطان زوئی،سنېټره صالحه مهرزاد،سنېټر

محمدآمین صافي،سنبټرعارف الله پښتون،سنبټر نثار احمد ،سنبټر حضرت شاه نورستاني،سنبټر محمد دین همدرد،سنبټر حافظ عبدالقیوم،سنبټر عثمان رحماني، سنبټرمولوي عبدالوهاب عرفان،سنبټر محمد عالم ایزدیار،سنبټر محمد امین احمدي،سنبټر ملا محمد فیضي،سید حافظ الله هاشمي، پروفیسر شاه سلطان عاکفي،ښاغلي محمد کاظم ملوان او ښاغلي فضل ربي شامل دي.

د پاکستاني ډلې مشري سنبټر مشاهد حسېن سید کوله او ورسره نورو غړو کښې سنبټر چوهدري شجاعت حسېن،سنبټرچوهدري اعتزاز احسن،سنبټره سحر کامران سنبټر افراسیاب خټک،سنبټره بیګم نجمه حمید،سنبټر ډاکټر جهانګیر بدر،سنبټر حاجي محمد عدیل،سنبټر سعید الحسن مندوخېل او مولانا محمد خان شیراني شامل وو.

# اضافه شوې F

گډه اعلامیه
د پاکستان افغانستان پارلیماني غړونهمه مذاکره
څلیرشتم پنځه ویشتم ستمبر دوه زره دیارلسم: اسلام آباد، پاکستان

۱ ـ د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو ترمنځه مذاکرات د ستمبر په څلیریشتمه او پنځه ویشتمه نېټه دوه زره دیارلسم کال اسلام آباد، پاکستان کښې اوشو.دغه مذاکراه چې د پاکستاني سېنټ فرینډ شپ گروپ لخوا د پلداټ په مرسته تابیا شوې وه ، پکښې د پاکستان لخوا مشري سنېټر افراسیاب خټک او د افغانستان لخوا مشري سنېټر سید فرخ شاه فاریابي جناب اوکړه.

۲ ـ د تیرو اته مذاکرو د عملدرامد جاج اخستو او د افغان اولسمشر حامد کرزئی د پاکستان د تېرې دورې روستو دوانړو ډلو د دې خبرې سره اتفاق اوکړو چې مستحکم سیاسي اړیکو دپاره داقسمه مذاکرې جاري ساتل پکار دي.

۳ ـ دوي د پاکستاني سېنټ د دفاعي کمېټۍ کابل ته سفر هم اوستائلو. ددوانړ و غاړو پارلیماني غړو په دې خبره تسله ښکاره کړه چې په مزه مزه د ددوانړوملکونو پارلیماني مذاکرو ته عملي او قانوني شکل ورکړې کېږي.

٤ ـ مذاکره کښې گډون کوونکو په دې خبره ټینگار اوکړو چې د دوانړوملکونو په سرحدي سیمو کښې مېشتو ترهه گرو لخوا کرلې شوې د نفرت بوټي به ختمولې شي د کوم دلاسه چې د دوانړو گاونډي ملکونو په تعلقاتو بدې اغیزې پرېوځي.دوي په دې خبره متفق وو چې دپولې دوانړو غاړو ته ترهه گر بې گناه خلق په نخښه کوي چې ورسره ددوانړو ملکونو ترمنځه غلط فهمې پیدا کیږي.د دوي خیال وو چې د دې مخ نیوي یواځې په هغه صورت کښې ممکن دې چې ددوانړو ملکونو سېکورټي ادارې یو بل سره په اخلاص مرستې اوکړي.د دوانړو غاړو پارلیماني غړو وینا وه چې باید د دوانړو حکومتونو سیکورټي چاروا‌کي دغه لړ کښې خپل مثبت کردار تر سره کړي چې ورسره دوانړو غاړو ته د بې گناه خلقو وژنه اودرېږي.

۵ ـ پارلیماني غړو وړاندې ورځو کښې پېښور کښې په چرچ شوې حملې غندنه اوکړه او په دې ئې خفگان څرگند کړو، ددوي وینا وه چې د دې قسمه کاروائۍ سره د دوانړو غاړو ترهه گرو د مجرمانه او ظالمانه ذهنیت پته لگي.دوي پېښنه کښې وژلې شوې خلقو سره خواخوږي ښکاره کړه.پارلیماني غړ و اووئیل چې د ترهه گرۍ خلاف د پاکستان او افغان اولس قرباني به بې ځایه نه ځي. دوي ترهه گرۍ ته د ماتې ورکولو عزم تکرار کړو.

٦ ـ مذاکره کښې گډون کوونکو په ټولو چارو ډېره په آزاده توگه او ښه چاپیریال کښې خبرې اوکړې.د ناستې نه دا خبره مالومېږي چې د دوانړو غاړو پارلیماني غړي او د اولس ټاکلي شوي نمائندگان صلاحیت لري چې هر قسمه گرانه مسله په سم ډول هواره کړي.د دوي وینا وه چې د دې مذاکرې په تناظر کښې پیدا شوې فکر کولې شي د پاکستا ن او افغانستان ترمنځه روانو مسلو حل لړ کښې مرسته اوکړي.

۷ ـ د دوانړو غاړو پارلیماني غړو پاکستان کښې د جمهوري تبدلۍ د عمل ستائنه وکړه اودا ئې د پاکستان اولس لویه بریا اوبلله.پاکستان کښې د جمهوري قوتونو مضبوطیا هم د سیمې امن او قلاري کښې اهم کردار ترسره کولي.د دوي وینا وه چې افغانستان کښې کېدونکې صدارتي او پارلیماني ټاکنو سره به هلته هم جمهوري ادارو او جمهوریت ته وده اورسي.دوي فکر کوو چې امن او جمهوریت یو بل سره تړلي دي او د یو مضبوطیدو سره بل ته هم وده رسي.

## د دوه زره اتم کال راهسې د پاکستان افغانستان پارلیماني مذاکرو په سفارښتونو د عملدرامد جاج

**دسمبر دوه زره څوارلسم**

۸ ـ پارلیماني غړو د دې سره اتفاق اوکړو چې د دوانړو ملکونو د اولسونو ترمنځه رابطو زیاتېدو سره به دوه اړخیزه تعلقاتو ته ګټه اورسي.دوي ټینګار اوکړو چې باید د دوانړوملکونو د اولسونو ترمنځه رابطې نورې هم سپوا کړې شي ځکه چې دا د دوه رونړو ملکونو ترمنځه د ښه تعلقاتو دپاره ډېر ضروري دي.د دوي وینا وه چې د دوانړوملکونو د اولسونو ترمنځه ملاقاتونو کښې دې دژوند د هرتپې خلقو، لکه زنانو، ځوانانو، کاروباري ، مطبوعاتي خلقو ، کلتور او هنرمندانو ته هم د شاملېدو موقع ورکړې شي.

۹ـ دوي زیاته کړه چې هر څو که په دې مذاکرو کې کېدونکې فیصلې به د دوانړو حکومتونو واکمنې ادارې عملي کوي،خو بیا هم د دوانړو ملکونو پارلیمانونه کولې شي خپل خپل حکومت ته داسې مشورې او تجویزونه ورکړي چې ورسره د پاکستان افغانستان تعلقاتو ته ګټه اورسي.یواځې اولس منتخب کړي نمایندګان د امن او قلارې دپاره د اولس د خواهشاتو نه خبر وي.نو ځکه دې لړ کښې د دوانړو غاړو نمائندګان کولې شي چې د پارلیمان موجودې وسیلې پکار راولي او د مذاکرو په ترس کښې مخې ته راغلي سفارښتونو ته عملي جامه واغوندي.

۱۰ ـ د افغانستان نه راغلي پارلیماني غړ و د پاکستان لخوا په مېلمستیا کولو او د مذاکرې په ښه شان تابیا کولو د پاکستان مننه اوکړه.دوی د سېنټ د چېرمېن نیئر حسین بخاري او سېنټ کښې د پاکستاني سیاسي ګوندونو هم مننه اوکړه چې دوي ته ئې پاکستان ته په راتګ تود هر کلې وئیلې وو.

۱۱ ـ هم دا راز د پاکستان او افغانستان پارلیماني غړو د پلډاټ هم مننه اوکړه چې د دوي دپاره ئې د مذاکرو نهم دور په ښه شان تیار کړې وو.دوي هیله څرګنده کړه چې پلډاټ به د داقسمه مذاکرو لړۍ جاري ساتي ځکه چې داسې ناستې د دوانړو ملکونو تعلقاتو ښه کولو او دې کښې ولاړ خنډانو لرې کولو کښې مهم رول لوبولې شي.

د افغانستان نه راغلي پارلیماني غړو کښې محترم سنېټر فرخ شاه فاریابي جناب چې د مشرانو جرګې سپکتر دې،سېنټر محترم فیض عبدالقیوم نورستاني چې مشرانو جرګه کښې د قانون سازۍ د چارو د کمیسون ډپټي چېرمېن،محترم داود اساس مشرانو جرګه کښې د دفاع ، کورني امنیت او د ځائي انتظامیې د کمیسون ډپټي سپکتر ،محترم سنېټر ډاکټر محمد امین صافي مشرانو جرګه کښې د دفاع ، کورني امنیت او د ځائي انتظامیې کمیسون غړې،محترم سنېټر رفیع الله حېدري مشرانو جرګه کښې د خارجه چارو دکمیسون غړې،آغلې سنېټره لیلوماه احمدي مشرانو جرګه کښې د تعلیم او مذهبي چارو د کمیسون غړې ده ، شامل وو .

د پاکستان لخوا دغه مذاکره کښې د سنېټر افراسیاب خټک په مشرۍ کښې  محترم سنېټر حاجي عدیل، محترم سنېټر عباس آفریدي، محترم سنېټرې ثریا امیر الدین، محترم سنېټر فرحت الله بابر، محترم سنېټر ډاکټر جهانګیر بدر، محترم سنېټر عبدالنبي بنګش، محترمه سنېټره نعیمه احسان، محترم سنېټرسعید غني،

محترمه سنېټره نجمه حمید، محترمه سنېټره سعیده اقبال، محترم سنېټر امر جیت، محترمه سنېټره روبینه خالد، محترم سنېټر باز محمد خان،محترم سنېټر سعید الحسن مندوخېل، محترم سنېټر نثار ملاکنډ، محترمه سنېټره شریلا ملک، محترم سنېټر نجم الحسن، محترمه سنېټره کلثوم پروین،محترم سنېټر مشاهد حسېن سید، محترم سنېټر محمد صالح شاه،محترم سنېټر شاهي سید ګډون اوکړو. دا رنګ د قامي اسمبلۍ غړو کښې ښاغلي آفتاب احمد خان شېرپاو،ښاغلي انجنئېر حمید الحق، ښاغلي سراج محمد خان،ښاغلي محمد ګوهر شاه،ښاغلي انجنئېر علي محمد خان،ښاغلي مجاهد علي خان،ښاغلي عثمان خان ترکئ،ښاغلي افتخار الدین،ښاغلي جنید اکبر خان، ښاغلي محمد جمال الدین خان، ښاغلي قیصر جمال، آغلې نفیسه عنایت الله خټک،آغلې عارفه خالد پرویز، او ښاغلي ډاکټر رمېش کمار ګډون لرلو.

## اضافه شوېG

گډه اعلامیه
د پاکستان افغانستان پارلیماني ډلو لسمه مذاکره
اول، دویم اکتوبر کال دوه زره دیارلسم؛اسلام آباد ، پاکستان

۱ـ د پاکستان افغانستان پارلیماني غړ و ترمنځه د مذاکرو لسم دور د اکتوبر په ړومبۍ او دویمه نېټه اسلام آباد،پاکستان کښې اوشو.دا مذاکره چې د پلډاټ په مرسته تابیا کړې شوې وو، د پاکستان افغانستان پارلیماني فرېنډ شپ گروپ تر لاندې اوشو چې مشري ئې د پاکستان مشر افتاب احمد خان شېر پاؤ او دافغانستان لخوا ښاغلي مېروېس یاسیني چې د افغان پارلیمان ډپټي سپیکر دې ، کوله.

۲ـ د تیرو نهه مذاکرو د جاج اخستو روستو دوانړو غاړو په دې تسله ښکاره کړه چې د دوانړو ملکونو ترمنځه تعلقاتو کښې د ښه سیاسي چاپېریال په وجه ښه والي راغلې دې.خو بیا هم دوانړو غاړو په دې زور راوړو چې دوانړو ملکونو ته یو شمیر مسلې وړپېښې دي او د دې د حل دپاره به دوانړو له یو بل سره مرستې پکار وي.

۳ ـ د لسمي غونډې گډون کوونکو یوه اوونۍ وړاندې په ځلیریشتم او پنځه ویشتم ستمبر دوه زره دیارلسم کال شوې مذاکرې قرارداد منظورۍ لړ کښې د خپل خوا د پوره پوره مرستې ژمنه اوکړه.

٤ـ پارلیماني غړو پاکستان افغانستان تعلقاتو ته وړپېښو مسلو باندې ښه په آزاده توگه خبرې اوکړې. پارلیماني غړو په دې خبره زور راوړو چې د پاکستان افغانستان خاوره به د یو بل خلاف د ترهه گرۍ دپاره نه کارول کېږي. دوي د دوانړو ملکونو غړ اوکړو چې د تورونو الزامونو لړۍ باید اودرولې شي.

۵ ـ پارلیماني غړو ټینگار اوکړو چې باید د خارجه او سېکورټي پالیسو جوړښت لړ کښې دوي خپل موثره کردار ترسره کړي او په دې پالیسو نظر اوساتي.او ضروري ده چې دې لړ کښې دوانړه پارلیمانونه خپل کردار ترسره کړي.او دې لړ کښې د دوانړو پارلیمانونو جوړې کړې شویو کمېټو له پکار ده چې خپل کردار ترسره کړي.

٦ـ پارلیماني غړو د پولې دوانړو غاړو ته مخ په سیوا کیدونکي د ترهه گرۍ په پېښو اندېښنه څرگنده کړه او وے وئېل چې په یو بل د تورونو پځائي باید چې د دختمون لارې اولټولې شي.

۷ ـ پارلیماني غړو په کال دوه زره څوارلسم کښې د افغانستان نه د ایساف او امریکائي عسکرو د وتو سره دوانړو ملکونو ته مخې ته کېدونکې ننگونې او مواقعې هم په گوته کړې او زیاته ئې کړه چې په دې داوس نه غور پکار دې.دوي ټینگار اوکړو که د پاکستان او افغانستان حکومتونو د اوس نه دې لړ کښې موثره خبرې اترې اونکړې نو ورسره به دوه زره څوارلسم روستو حالات نور هم خراب شي.

۸ ـ پارلیماني غړو اووئیل چې دوانړه ملکونو د یو بل ملک کښې د ترهه گرۍ مخ نیوي او مفاهمت لړ کښې هر څومره کردار ترسره کولې شي باید چې هغه اوکړي.د دوه زره څوارلسم روستوغوریز حالاتو جوړولو او د امن او ثبات په غرض باید چې دوانړه حکومتونه دامن او استحکام دپاره په شریکه کار اوکړي. چې ورسره سیمه کښې قلاري او استحکام راشي.

۹ ـ د دواړو ملکونو پارلیماني غړو د دې سره اتفاق اوکړو چې باید د دواړوملکونو پارلیمانونو کښې جوړ کړې شوي فرېنډ شپ ګروپونو له دې دا قسمه مذاکرو تابیا کولو کښې مرکزي کردار ورکړې شي څکه چې دا کولې شي د ښه تعلقاتو لړ کښې پارلیماني ډپلومېسي پکار راولي.

۱۰ـ د پاکستان او افغانستان پارلیماني غړو په لسمه مذاکره تابیا کولو کښې په مرسته کولو د پلډاټ مننه اوکړه.دوي هیله څرګنده کړه چې پلډاټ به د دستورو دا لړۍ جاري ساتي څکه چې دا دامن راوستو او دواړو ملکونو ترمنځه د کړکېچ ختمولو لړکښې اهم کردار ترسره کوي.

۱۱ ـ افغان پلاوي دښاغلي میروېس یاسیني ډپټي سپیکر اولسي جرګې په مشرۍ کښې مذاکره کې ګډون اوکړو چې ورسره ښاغلي لطیف پدرام اولسي جرګه کې په قانون د عملدرامد او مرکزي بودېجې د کمېټۍ غړې دې،محترم عالم قرار، چې د کوني چارو د کمېټۍ غړې دې،ښاغلي الله ګل مجاهد چې اولسي جرګه کښې د شکایتونو او درخواستونو د کمېټۍ غړې دې،محترم محمود خان سلیمان خیل، او محترم حاجي سخي مشوانې چې ولسي جرګه کښې دداخلي امنیت او سرحداتو د کمیسون غړې دې،ګډون لرلو.

۱۲ ـ د پاکستان لخوا د آفتاب احمد خان شیر پاو چې د چارسدې د اتمي حلقې خېبر پختونخوانه د قامي اسمبلۍ غړې دې (قومي وطن پارټي) او د پاکستان افغانستان پارلیماني فرېنډ شپ ګروپ کنونئیردې ، په مشرۍ کښې ګډون اوکړو،دِله کې فیصل کریم کنډي چې د قامي اسمبلۍ پخواني ډپټي سپیکر وو، ښاغلي غلام احمد بلور ممبر قامي اسمبلي پېښور یو، خېبر پختونخواـ عوامي نشنل ګوند ، ښاغلي علي محمد خان ممبر قامي اسمبلي مردان دویم، تحریک انصاف،ښاغلي شهریار افریدي ممبر قامي اسمبلي کوهاټ ـ تحریک انصاف ،ښاغلي ډاکټر اظهر خان جدون ممبر قامي اسمبلي  ابېټ آباد یوـ تحریک انصاف ، ښاغلي ډاکټر راجه عامر زمان ممبر قامي اسمبلي هري پورـ تحریک انصاف،ښاغلي اکرم خان دراني ممبر قامي اسمبلي بنوـ جمیعت علما اسلام ف،ښاغلي شېر اکبر خان ممبر قامي اسمبلي بونیرـ جمات اسلامي، ښاغلي صاحبزاده طارق الله ممبر قامي اسمبلي اپر دیر جمات اسلامي،ښاغلي افتخار الدین ممبر قامي اسمبلي  چترال ـ آل پاکستان مسلم لیګ ، ښاغلي سید غازي ګلاب جمال ممبر قامي اسمبلي  فاټاـ آزاد،ښاغلي بسم الله خان ممبر قامي اسمبلي  فاټاـ آزاد ،ښاغلي شاه جي ګل آفریدي ممبر قامي اسمبلي فاټاـ آزاد ، ډاکټر ذوالفقار علي بهټي ممبر قامي اسمبلي  مسلم لیګ ن ـ سرګودها، ښاغلي ډاکټر رمېش کمار ممبر قامي اسمبلي  کراچي مسلم لیګ ن،ښاغلي محبوب عالم ممبر قامي اسمبلي  کراچي څلورم ـ متحده قامي موومنټ،ښاغلي محمد مزمل قریشي ممبر قامي اسمبلي  کراچي ـ متحده قامي موومنټ ،ښاغلي  آصف حسنېن ممبر قامي اسمبلي  کراچي ـ متحده قامي موومنټ ، آغلي آسیه ناصر ممبر قامي اسمبلي بلوچستان ـ جمعیت علما اسلام ف،ښاغلي مولانا آمیر زمان ممبر قامي اسمبلي  لورالائي، جمعیت علما اسلام ف، آغلي طاهره اورنګزیب ممبر قامي اسمبلي  پنجاب ـ مسلم لیګ ن،آغلي رومېنا خورشید عالم ممبر قامي اسمبلي  پنجاب ـ مسلم لیګ ن،آسیه ناز تنولي ممبر قامي اسمبلي  پنجاب ـ مسلم لیګ ن، آغلي زهره ودود فاطمي ممبر قامي اسمبلي  پنجاب ـ مسلم لیګ ن، آغلي نفیسه عنایت الله خان خټک ممبر قامي اسمبلي  پختونخوا ـ تحریک انصاف، آغلي ساجده بیګم ممبر قامي اسمبلي  خېبرپختونخواـ تحریک انصاف آغلي شاهده اختر علي ممبر قامي اسمبلي   خېبرپختونخواـ جمعیت علما اسلام، آغلي نعیمه کشور خان ممبر قامي اسمبلي   خېبرپختونخواـ جمیعت علما اسلام، آغلي عاءشه سعید خېبرپختونخوا ـ جمات اسلامي، آغلي عائله کامران ممبر قامي اسمبلي ـ بلوچستان جمیعت علما اسلام آغلي سنېټره ثریا امیرالدین پیپلزګوندـ بلوچستان او سنېټر ښاغلي محمد رفیق رجوانه  مسلم لیګ ن پنجاب شامل وو.

اضافه شوې H

## د پاکستان افغانستان د پارلیماني غړو ترمنځه یوولسمه مذاکره اوولسم اتلسم دسمبر دوه زره دیارلسم کال، کابل، افغانستان.

1. د پاکستان افغانستان د پارلیمان غړو د دوه زره دیارلسم کال دسمبر میاشت په اوولسمه اتلسمه نیټه کابل کښې د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو په یوولسمه غونډه کښې سره ولیدل.
2. د دوانړو ملکونو پارلیماني غړو په دیرشم نومبر دوه زره دیارلسم کال دپاکستاني وزیراعظم نوازشریف کابل ته سفر وستائلو او دا ئې د دوانړو ملکونو تعلقاتو کښې یو ښه ګام وبللو.
3. د دوانړو ملکونو پارلیماني غړو د پاکستان افغانستان د مشروالۍ هغه ژمنې وستائلې چې وائې دوه اړخیزه تجارت به پنځه اربه ډالرو ته رسوي او د ښه تعلقاتو دپاره ئې د تجارت او اقتصادي مرستو زیاتولود څارمرسته وکړه.
4. پارلیماني غړو د افغانستان بیا ودانی او معاشي استحکام کښې د افغانستان مرستو زیاتولو لړ کښې د وزیراعظم د هغه بیان هم هر کلي اوکړو چې دغه مرستې به د درې سوه پنځه اتیا ملینه ډالرو نه په زیاتولو پنځه سوه ملینه ډالرو ته رسولې شي.دوي د پاکستان افغانستان ترمنځه د رابطو زیاتولو د اقدام ستائنه وکړه چې ترمخه به ئې پېښور او کابل د سړک په ذریعه، پېښور ـ جلال آباد او چمن ـ سپین بولدک د ریل په ذریعه یو بل سره تړلې شي او ورسره ورسره به د دوانړو هیوادونو ترمنځه یو مرکزي ستراتجیکي کاروباري حب هم جوړولې شي.
5. پاکستان کښې په مئ دوه زره دیارلسم کښې د تولټاکنې د لار په جمهوري طریقه د اقتدار تبدیلۍ هر کلي وشواو پارلیماني غړو په دوانړو حکومتونو غږ وکړو چې د امن دپاره کار اوکړې شي چې ورسره به د دوانړو ملکونوښه سیمه ایزو تعلقاتو ته وده ورسي.
6. دوانړو ډلو دهغه عزم تکرار وکړو چې د امن راوستو دپاره باید ښه چاپېریال پیدا کړې شي او د خبرو اترو پروسه دې جاري وساتلې شي چې ورسره به د دوانړو ملکونو تعلقات مستحکم شي. دوي دا هم اووئیل چې د دوانړو ملکونو تعلقاتو نور پیاوړي کولو دپاره ضروري ده چې مذاکراتي عمل بامعني ، بامقصده او پائېدار وي.
7. پارلیماني غړو دا خبره ومنله چې د تاریخي اړیکو باوجود د دوانړو ملکونو ترمنځه د عتماد کمې دې چې ورسره په دوه اړخیزه تعلقاتو بدې اغیزې پرېوځي.دوي ووئېل چې د دوانړو ملکونو د اولس د نمائندګانو په حېث پکار ده چې پارلیماني غړ مخکښې راشي او د بداعتمادۍ ختمولو لړ کښې خپل کردار ترسره کړي.
8. د پاکستان افغانستان پارلیماني غړو داخبره نوټ کړه چې د دوه زره اتم کال نه تر اوسه پورې چې د پارلیماني غړو کومې لس مذاکرې شوي او په هغې کښې د دوه اړخیزه تعلقاتو ښه کولو دپاره کوم تجویزونه ورکړې شوي په هغې کښې په بعضې عملدرامد شوېدې کومه چې یوه ښه خبره ده.
9. پارلیماني غړو په دوانړو حکومتونو ټینګار وکړو چې د افغانستان او سیمه ایز امن او مفاهمتي عمل دپاره دې په شریکه سره کار وکړي.د دوي په خبره ترهه ګري او انتهاپسندي د دوانړو ملکونو دپاره لویه مسله ده او د دې ختمون دپاره دوانړو له په شریکه او مسلسل اقدامات پکار دي.
10. پارلیماني غړو ټینګار وکړ چې دوانړو غاړو له د پولې د انتظام کوټلې طریقه کار پکار دې او دوانړو غاړو ته مېشت قبائل مضبوطولو سره هم د پولې په ښه شان څار ممکن دې. د دوي وینا

وه چې باید د دواړو ملکونو خاوره د یو بل په ضد استعمال ته پرېښودې شي او دغه لړ کښې دواړه څه ګیلې لرې پکار ده چې د هغې ختمون دپاره په خصوصي بنیادونو په ایمانداری کار وکړې شي.

11. پارلیماني غړوپه دواړو حکومتونو غږ وکړو چې د پولې د انتظام په وخت دې د سېکورټۍ سره سره د بشري حقونو خیال وساتلې شي.د پولې دواړو غاړو ته د مېشت قبائلو او بې کوره شوې خلقو مسلو ته خصوصي پاملرنه وکړې شي. دواړو غاړو ته د مسلو نه متاثره شوې خلقو ته دې د بیاودانۍ دپاره مالي مرستې ورکړې شي.

12. د دواړو غاړو پارلیماني فرېنډ شپ ګروپ غړو په دواړو حکومتونو غږ وکړو چې زر ترزره دې بداعتمادي ختمه کړې شي او د ستراتجیکي مرستو دپاره دې یوه کوټلې لوظنامه وکړي.

13. پارلیماني غړو د دواړوملکونو ترمنځه په دفاعي او امنیتي چارو کښې د کوټلې مرستو ضرورت محسوس کړو خو زیاته ئې کړه چې باید د دواړو ملکونو جمهوري حکومتونه او پارلیماني غړي په دغه مرستو ژور نظر او واک ولري.

14. پارلیماني غړو د پاکستان لخوا افغانستان سره تعلقاتو ته اهمیت ورکولو باندې خوشحالي څرګنده کړه او دغه لړ کښې ئې د قامي سلامتۍ دپاره نوې جوړې کړې شوې کابینې د کمېټۍ هر کلې اوکړو او هیله ئې څرګنده کړه چې دواړه حکومتونه به د پاکستاني کابینې د سلامتۍ کمېټۍ (CCNS)او افغانستان د سېکورټي کونسل (NSC) ترمنځه رابطې پیدا کړي.

15. د دواړو ملکونو پارلیماني غړو په حکومتونو ټینګار وکړ چې د درې اړخیزه لوظنامې په تناظر کښې دې دوه زره پنځلسم پورې د پاکستان نه د افغان کډوالو په عزت سره د واپسۍ کوټلې کړنلاره جوړه کړي. دوي د افغانستان راتلونکي صدارتي ټولټاکنو کښې افغان کډوالو ته د ووټ ورکولو لړ کښې ورکړې شوي سېکورټۍ او نورو آسانو باندې د پاکستان حکومت مننه هم وکړه.

16. پارلیماني غړو راتلونکي کښې ممکنه رامخې ته کېدو د اوبو په مسله د اوس نه غور کولو په ضرورت هم زور راوړو. دوي دواړو حکومتونو ته ووئیل چې د اوبو لړ کښې دې د سیمه ایزو او نړیوالو غوریزو لوظنامو په رڼا کښې څه موافقې ته ورسي.

17. دوي وغوښتل چې څه رنګ د سارک ملکونو د پارلیمان غړي د ویزې بغېر د سیمه ایز ملکونو سفرکولې شي باید چې پاکستان افغانستان هم داسې یوه لوظنامه وکړي چې د دواړو ملکونو د پارلیمان غړي یاهغه ډپلومېټي یا سرکاري پاسپورټ لري د یو بل د ملک بغېر ویزې سفر وکړي.د دې سره سره دې دعام خلقو دپاره هم ملټي پل ویزې شورو کړې شي.او کاروباري خلقو ته دې په ترجیحي بنیادونو وېزې ورکړې شي.

18. د پارلیماني غړو غوښتنه وه چې دواړه حکومتونه دې خپلو خپلو ملکونو کښې د بل ملک پېښه ور خلقو ته خصوصي تحفظ ورکړي.

19. پارلیماني غړو غوښتنه وکړه چې دواړه حکومتونه دې د نشه ایز توکو د مختلفو اړخونو په اړه یوه کوټلې او اثرناکه کړنلاره وټاکي

20. د پاکستان او افغانستان خلق د کلتور په رشته تړلي دي، او دا رشته کولې شي د اولسونو ترمنځه رابطې زیاتې کړي چې ورسره د سېکورټۍ مسلې، سیاسي مسلې او دغه رنګ نورو ډېرو چارو حل کېدو کښې مرسته ترلاسه شي.پارلیماني غړو په دواړو حکومتونو ټینګار وکړ چې د کلتوري تبادلو لړکښې ولاړ ټول خنډان لرې کړي. لوبې او په خاص توګه کرکټ کولې شي د رابطو مضبوطولو لړ کښې موقعي په لاس ورکړي.

21. پارلیماني غړو مطبوعاتي رابطو ته هم لوئے اهمیت ورکړو او وے وئېل چې الیکټرانک او نوره مېډیا کولې شي د خپلو څېړنو په ذریعه تجارت او امن لړ کښې مرسته وکړي. نو ځکه پکار ده چې د دواړو ملکونو مطبوعاتي ادارو ته د یو بل ملک ته تسلسل سره د تلو اجازه ورکړې شي.

22. پارلیماني غړو د پاکستان لخوا افغان زده کونکو ته د درې زره سکالرشپو ورکولو هم ستائنه وکړه او وے وئیل باید چې دوانړه حکومتونه د زده کوونکو د په تبادلو زیاته پنګه ولګوي. د ځوانانو او زنانوۀ په تلې راغلي هم زور راوړې شو.
23. پارلیماني غړو ژمنه وکړه چې د جرګو او دوستۍ تنظیمونه په ذریعه به راشه درشه نوره هم زیاتولې شي.
24. د پارلیمان غړو د دوانړو ملکونو قیدیانو ته د کونصلرانو زر تر زره رسائۍ غوښتنه هم اوکړه. د دوي وینا وه چې دوانړو ملکونو کښې پارلیماني فرینډشپ ډلې به باقاعدګۍ سره خپلو خپلو ملکونوکښې دقیدیانو صورتحال جاج اخلي او متعلقه چارواکو نه به د دوي د کېسونو پېشرفت په اړه معلومات هم کوي.
25. پارلیماني فرینډ شپ ګروپ په دوانړو پارلیمانونو غړ وکړو چې مذاکرو کښې رامخي ته شوي تجویزونه باید په خپل خپل پارلیمان کښې وړاندې کړي. دوي ژمنه وکړه چې شریکې اعلامیې به ددوانړو ملکونو خارجه دفترو، خارجه چارو کمېټیو او دوانړو حکومتونو په وړاندې ږدي.
26. د پارلیماني غړو وېنا وه چې باید دوانړه ملکونه د یو بل موقف په دوه اړخیزه او ګنړ اړخیزه فورمونو او عن چې په پارلیمانونو کښې راپورته کړي.
27. د پارلیماني غړو تجویز وو چې خپل منځي مرستو او رابطو زیاتولو په خاطر باید چې د دوانړو ملکونو پارلیمانونو کښې د پاکستان افغانستان فرینډ شپ ګروپس یوه شریکه وېب پاڼه جوړې کړې شي.
28. پارلیماني غړو د پلډاټ د ګام ستائنه وکړه او وے وئېل چې د مذاکرو لړۍ نوره تېزه کړې شي او دا کار دې جاري وساتلې شي او ورسره ورسره دې په دې عملدرامد هم وکړې شي.

د پلډاټ په مرسته د پاکستان پلاوې چې مشري ئې په قامي اسمبلۍ او سېنټ کښې د پاکستان افغانستان فرینډ شپ ګروپو کنوینئرانو ښاغلي آفتاب احمد خان شېرپاو د قامي اسمبلۍ ممبر (چارسده I خیبرپختونخوا، قومي وطن پارټي) او ښاغلي سېنېټر افراسیاب خټک (عوامي نشنل ګوند، خیبر پختونخوا) کوله.دوه ورځنۍ مذاکره کښې د افغانستان لخوا میروېس یاسیني څوک چې په اولسي جرګه کښې ړومبې مرستیال سپیکر دې او ښاغلي رفیع الله افغان چې مشرانو جرګه کښې دویم مرستیال سپیکر دې، شریکه مشري اوکړه.

کابل کښې شوې دوه ورځنۍ مزاکره کښې د پاکستان قامي اسمبلۍ لخوا محترم صاحبزاده طارق الله ممبر قامي اسمبلي (اېن اے درې دیرش، بره دیر۔ کم کوز دیر ، خیبرپختونخوا، جمات اسلامي)، محترم بسم الله خان ممبر قامي اسمبلي (اېن اے یو کم څلوېښت، قبائلي سیمه iv آزاد)،محترم غازي ګلاب جمال ، ممبر قامي اسمبلي، (اېن اے درې څلوېښت، قبائلي سیمه VIII، آزاد)، محترم ملک احتبار خان ممبر قامي اسمبلي، (اېن اے اته پنځوس اټک II، پاکستان مسلم لیګ ن)،آغلې مسرت احمد زېب ممبر قامي اسمبلي (اېن اے درې سوه درې ویشت، خیبرپختونخوا II، پاکستان تحریک انصاف) او د سېنټ نه ښاغلي عبدالنبي بنګش (عوامي نشنل ګوند، خیبرپختونخوا)،محترم سېنېټر ظفر علیشاه (پاکستان مسلم لیګ ن، اسلام آباد) او په خصوصي بلنه د قامي اسمبلۍ پخواني مرستیال سپیکر ښاغلي فیصل کریم کنډي، محترم سنېټر ډاکټر محمد جهانګیر بدر (پیپلز ګوند، پنجاب) او ښاغلي سېنېټر محمد داود خان اچکزئ (عوامي نشنل ګوند، بلوچستان) ګډون لرلو.

دافغانستان لخوا مذاکره کښې محترم شېرعلي احمدزئ، محترم فکوري بهشتي،محترم عبدالستار درزابي، محترم باز محمد جوزجان، محترمه نسیمه نیازې،محترم حاجي سخي مشواني،محترمه برېشنا رابي، آغلې زهره توخي او آغلې آریان یون چې د ولسي جرګي (کوز ایوان) سره ئې تړون وو ګډون درلود دا رازمحترمه سنېټره ګلالی اکبري، محترم سنېټر حاجي محمد داود اساس،محترمه سنېټره صدیقه بلخي،سنېټر نثار احمد حریث،محترم سنېټر عبدالقیوم نورستاني، محترمه سنېټره رونا ترین او محترمه سنېټره فوزیه سادات چې د مشرانو جرګې نمائندګي کوي، ګډون لرلو.




د پاکستان انسټي ټيوټ آف لېجسلېټېو ډوېلپمنټ اېنډ ټرانسپرنسي پلډاټ
اسلام آباد دفتر: پي او بکس ۲۷۸، ايف اېټ، پوسټل کوډ: ٤٤٢٢٠، اسلام آباد، پاکستان.
لاهور دفتر: پي او بکس ١١٠٩٨، اېل سي سي اېچ اېس، پوسټل کوډ: ٥٤٧٩٢، لاهور، پاکستان
اېمېل: ;info@pildat.org وېبپاڼه : www.pildat.org